# په زخمونو
# کې
# سندرې

څلورمه شعري ټولګه

ډاکټر ذبيح الله "حسن"

Ketabton.com

سندرې

ن"

***hassandoctor***

2012

ی

ې تخنيکي څانګه

www.da

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

راشه چې له زړه په مات اواز څه درته ووایم
نن به د رندانو په انداز څه درته ووایم

ګوتې به د څړیکو د خپل زړه په مراندو کېږدمه
پټ به د سلګو سلګو په ساز څه درته ووایم

زما په لېونتوب کې یې منطق راتهٔوکولای دی
نور د خپلې مینې د اعجاز څه درته ووایم

ته به په ترپکو د بلۍ سر ته راوخېژې
زه به په سرو سترګو لکه باز څه درته ووایم

زه چې شومه ته او ته شوې ورک زما په خیالونو کې
بل د محبت جانانه راز څه درته ووایم

ته یې په کنډو چې تل دخپل ناز کرشمې کړې
زه به د (حسن) د زړه د نیاز څه درته ووایم





# غزل

انځور دې مستقبل کړه د تدبیر په آیینه کې
ماضي یوازې ښکاري د تقدیر په آیینه کې

زه ستا مخ ته ولاړ او ژوند زما په تمه ناست دی
الفت کړم د تصویر غوندې اسیر په آیینه کې

لږ غوږ شه په ارام راته اشنا چې تصویرونه
ګډوډ شي د اوبو د تېز بهیر په آیینه کې

خود وایي به (حسنه) ملامت ستا پر شعرونو
هر عیب چې د تصویر ګڼي تقصیر په آیینه کې

تش نوم یې راته بیا تېر شوی ژوند مخې ته کېږدي
ښکاره لکه د شا چې شي تصویر په آیینه کې

پتنګ غوندې (حسنه) که پرې ځان سېځلی نه شي
خورې کړه رڼاګانې د ضمیر په آیینه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

زمونږ که له زخمونو د پرون لمنه ډکه ده
نن مو هم له څړیکو د ژوندون لمنه ډکه ده

ګوره له ګلکڅ نه د ښکلا، بحر د اوښکو مې
څومره له غورځنګ نه یې د یون لمنه ډکه ده

زړه مې ستا رمه د خاطرو په مخه کړې ده
بیا چې له ټپو نه ددې شپون لمنه ډکه ده

رابه وړي که خدای کول د سولې پتاسې پکې
نن که له سکروټو د پښتون لمنه ډکه ده

ستا که خورې څڼې پرېشانۍ په مخه کړي دي
زمونږ هم له سودا نه د جنون لمنه ډکه ده

ډېر به دې پر حُسن د وفا رنګونه وشیندم
لا خو مې د عشق د زړه چاودون لمنه ډکه ده





ډېر دې یې په زړه "حسنه" وخوړل درانه کاڼي
څومره دې لا نوره د بېلتون لمنه ډکه ده

## یو شعر

شپه شوه تېره سپیدې وچاودې سحر شو
کیسه زما د زړه چاودون تمامه نه شوه

وې: اوږدې د بېلتون شپې دې چې شي هېرې
راشه نن دې په اوږدو څڼو کې پټ کړم

د حیا پردې به ورو ورو کړمه پورته
کړم خبرې به وړې زړه به مې غټ کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

مانــه يــې د زړه د پرهرونــو کيســې هيــرې دي
ســتا څنګـه د زړونـو د ټوټـو کيسـې هيـرې دي

بيـا يـې لـه تنـدي دي کوچېـدلي د الفـت نخښـې
بيـا لـه دې آيينـې د تصـويرونو کيسـې هيـرې دي

بـس دی مـه پوښـتئ د اقتـدار لـه بدمسـتانو نـه
دوی نه د غورځنګ او بدلونونو کيسـې هيـرې دي

سـتا د تشـې خېټـې لـه عذابـه، بـه شـي څـه خبـر
دوی چې اوس د لوږې د دردونو کيسې هيرې دي

څنګه به شرير پر شرارت بانـدې څـوک پـړ کانـدي
مونږ چې د ضمير د فريـادونو کيسـې هيـرې دي

دا ده لا خو وايم په لوګن وخت کـې د عشـق غـزل
څـوک وايي؟ خوشبو نه د ګلونو کيسې هيرې دي





بـس ده سـمندره د ژونـد مـه مـو وېـروه جـذبې
زمـونږ لـه دې څپـو د توپـانونو کيسـې هيـرې دي

وينم دې "حسنه" په هر شعر کې د احساس تصـوير
چا وې:؟ له دردونـو د زخمونـو کيسـې هيـرې دي

کـــه ارام يـــــې دی د زړه راځنـــــې وړی
خــو ســبب مــې د ژونــدون هــم محبــت دی

يـوه ګـړۍ مې پخپـل ځـان پـورې حېـران کـړې
بـل سـاعت مـې مضـطرب زړه تـه راحـت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

لېونی چې مې نن بیا د زړه موسم دی
د اشنا د مستانه نظر کرم دی

د بېلتون په جل وهلي بیابان کې
ستا د خیال د څڼو سیوری مې همدم دی

تور د عشق به مې له عشقه زړه تور نه کړي
چې هر دم راسره ستا د حُسن دم دی

چې په برخه د موږک شوه شپه د ژړندې
نو بیا چا وې: چې حاکم د کابل ګرم دی

خوشحالي مې د زړه کور ته راتلی نه شي
دروازې ته یې د مینې غم اړم دی

په رنګونو د لفظونو کې مې ډوب کړ
نور مې تش د زړه له وینو نه قلم دی





اتڼچیان یې د یادونو ورته ناځي
بیا رایاد یې د خبرو زیر و بم دی

فرښتو یې تخیل دی لمسولی
هر غزل چې د "حسن" صنم صنم دی

څو شپې مو چې د اوښکو باران تم شي
د سندرو قاتلان چېرې راواخلي

مونږ چې کله هم قلم ته ګوتې وروړو
زمونږ د پوهې دښمنان چېرې راواخلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

په سندرو کې به ورک یم په سلګو کې به مې غواړې
لټوې به بهارونه په وږمو کې به مې غواړې

په نیلۍ د خیال به درومې، په زړه موړ به یې له حاله
د وختونو په لوټ شوو قافلو کې به مې غواړې

لکه خوب دومره نږدې چې درته نه یم بې قرار یې
ګوره ژوند دی نو تر کومه په لېمو کې به مې غواړې

سندریز خوب به د مینې نیمه شپه یې پاخولي
د رباب پردې به سپړې په نغمو کې به مې غواړې

د مَېنو د مچکو، انګازې د خرپ به اورې
له ګلاب به کړې پوښتنه په خوشبو کې به مې غواړې

زه "حسن" به درنه ورک یم، زړه د هر مَېن به سپړې
پلټې به یې دردونه په زخمو کې به مې غواړې





# غزل

دا په ثواب که په ګناه مینه خوره وره شوه
خدایه نن بیا مې په ښکلا مینه خوره وره شوه

په خوله د شمعې د مزار مې کړئ خبر که مړ وم
چې په وطن لکه رڼا مینه خوره وره شوه

احساس مې وتراشل ترې یاره د شعرونو غمې
په کاڼي زړه مې چې دتا مینه خوره وره شوه

هره وینا د خلکو نیسم د موسکا په غېږ کې
ماته د تورو په معنا مینه خوره وره شوه

دا دی ادا مې کړ دتا د حُسن قرض جانانه
ستا چې په ناز او په ادا مینه خوره وره شوه

اوس یې نو وکاږئ په منځ کې په اسمان کې کرښه
اغیارو بیا په پښتونخوا مینه خوره وره شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا خو بدلېږي ارزوګانې دم په دم جانانه
زما خو په هره تمنا مینه خوره وره شوه

اغوندي ساندې د "حسن" هم سندریزې جامې
خدایزده په شعر یې چې د چا مینه خوره وره شوه

✵

شي درپسې به ډېر ساړه اسویلي
د مخ پانوس کې سره لمبه ګرځوې

خامه جینۍ یې په دې نه پوهېږې
خامه خولګۍ په پخه شپه ګرځوې





# غزل

ویاړې که ته په دې ذلت په ډاګه
زمونږ خو خوښ دی بغاوت په ډاګه

په شنو ډالرو یې زړه وپړسېدو
اوس چې اقرار کړي د رشوت په ډاګه

وایي ژغورم خو دې له یوه ګاونډي
په بل دې پلورم که عزت په ډاګه

پرون یې ړیرو کې ریال ټولول
نن د شیطان کړي عبادت په ډاګه

د غلا له خونده یې بې برخې نه یو
بس کله کله کړو الفت په ډاګه

مونږ محبت په خوله راوړلی نه شو
دوی ځنګه کړي دومره نفرت په ډاګه

پرون دې وې: غم دې په اوښکو وينځم
نن مې د سر اخلې قيمت په ډاګه

"حسن" د زړه په اور شيندلې ويني
بس دی نور وايي حقيقت په ډاګه

مخ ته ورواغوندې جامې د موسکا
خو دې له سترګو پټې اوښکې درومي

ما درته وې: ناز دې په سترګو مه کړه
له غټو سترګو غټې اوښکې درومي





## غزل

زړه درکوم زړه درنه غواړم درځم
نور مې له خپله ځانه لاړم درځم

د بېرته ګ په اراده نه درځم
لار د راتګ راپسې نغاړم درځم

چې د تلو غم ته اوښکې پاتې نه شي
نن په راتلو درسره ژاړم درځم

څوک دې ښکلا ياره لوستلی نه شي
د مينې ژبه کې دې ژباړم درځم

ډېر مې د هجر په يخنۍ وخوړې
تودو مچکو کې دې نغاړم درځم

نوم د "حسن" دې شي موسکا په شونډو
په پښتنه حيا دې وياړم درځم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

نــن بیــا درتــه د ســترګو پښــتنو اوښــکې دروړم
محفــل تــه لکــه شــمه پــه لمبــو اوښــکې دروړم

اوږې به د لفظونــو پــرې درنــې غونــدې شي یــاره
کیســو تــه د بېلتــون مــې د لېمــو اوښــکې دروړم

پرده کړي پښتنې دي خو بس ستا دیدن لپاره
تنهــاکو غونــدې پټــې د زخمــو اوښــکې دروړم

دا چا وې: چې اسمان وریځې د باد په څپو بار دي
دا زه یــم د خپــل غــم پــه اســویلو اوښــکې دروړم

لمــانځم بــه دې لندنــه پــه ژړا د مــزدورۍ بیــا
درځــم درتــه ډالــۍ مــې د خولــو اوښــکې دروړم

پــوهېږې پرهرژلــې د دردمنــد پــه درد "حسنه"
پرهــر تــه لــه تنهــاکو د تــاکو اوښــکې دروړم





# غزل

هســې نــه تــه هــم شــې بیمــار د ســترګو
دومــره مــې مــه اخلــه ازار د ســترګو

د ژونــد لــه ټولــو منــډو تــرړو ځنــې
تــش راتــه پــاتې شــو غبــار د ســترګو

پــه طبیــب ذهــن مــې چــاره نــه کېږي
زړه رانــه واخیســتو مهــار د ســترګو

چــې اوبــه هــم څښــو د مارغــانو غونــدې
لــه ویــرې هــر لــور تــه کــړو څــار د ســترګو

انکــار د خــولې نــه یــې وي ټینــګ ملګــرو
د پښــتنو پېغلــو اقــرار د ســترګو

نــن پــرې راځــي د نظــارې نــاوې یــې
اوښــکې شــیندم ورتــه پــه لار د ســترګو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس يې هر چاته اړولی نه شم
چا رانه وړی دی اختيار د سترګو

"حسنه" ګرځي پکې پېغلې هيلې
په اوښکو شين ساته ګلزار د سترګو

پيروي په پټو سترګو جهالت وي
بې شعوره د عمل تکرار عادت وي

معرفت چې ترې د خدای ترلاسه نشي
هسې لمونځ روژه بې روحه عبادت وي





# غزل

جوړ کړم له يادونو د جانان تصوير په سترګو کې
اوښکې ظالمانې يې کړي وران تصوير په سترګو کې

بيا به مې ولاړه د يادونو آيينو ته وي
بيا مې چې غړېږي يو حېران تصوير په سترګو کې

ما هم غزليز د غزلتورو په رنګونو کړ
تا چې راښکاره کړو د رومان تصوير په سترګو کې

ته وا چې باران په شنه اسمان اوري چې وخاندې
اوښکې دې چې جوړ کړي د باران تصوير په سترګو کې

ګوټ پسې کړم ګوټ تنده د مينې مې ماتېږي نه
راشي د مالګين حُسن ميزبان تصوير په سترګو کې

څرېکې د نظر د پرهرونو مې خُمارې شوې
وينې دې جانانه د درمان تصوير په سترګو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـور يـې پېغلتـوب پـه پښتنه تقـوا بـې سـېکه دی
وايي يې د مينې د ارمـان تصـوير پـه سترګو کې

نن که بې وسۍ لاس د پښتون پر خوله نیـولی دی
وینم یې "حسنه" د توپـان تصـویر پـه سترګو کې

چېرتـــه توپـــان رااوچـــت کـــړی وي ســـر
ټولـــه فضـــا چـــې شـــي لـــه شـــوره ډکـــه

خـــود بـــه يـــې خېږي سـري لمبـې لـه خـولې نـه
د چـــا ســـينه چـــې وي لـــه اوره ډکـــه





## غزل

نن دې په سرو شونډو پرونۍ خبرې چېرتـه دي
وايــه ســتا د مينــې لېــونۍ خبــرې چېرتــه دي

وختـل تـر زړه مـې د بېلتـون د خاموشـۍ ازغـي
ســتا د پســرلي حُســن غــوټۍ خبـرې چېرتـه دي

زما د زړه بيـديا بـه يـې جـارو چې پـه نغمـو کړلـه
اوس دې هاغه مستې بوړبـوکۍ خبـرې چېرتـه دي

څنګـه بـه يـې مـار د پېغلتـوب پـه نڅـا راولـم
نور مې پـه غـزل کې د مستۍ خبـرې چېرتـه دي

زما به چې د شين زړه په ورشو کې پـه ټوپونـو وې
هغـه سـتا بـې بـاکې غرځنـۍ خبـرې چېرتـه دي

پو به يې لمبې چې په رګونو د "حسـن" کـې کـړې
سـتا د پېغلتـوب هغـه سـپرغۍ خبـرې چېرتـه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کابله څنګه درشم؟

خواږه یاران رانه په وار وار پوښتي
چې کابل جان ته، ته راځې ولې نه؟
د پردیسۍ خزان وهلی روح دې
ددې ګلشن په باد مینځې ولې نه؟

دوی مهربان دي لورینه لري
زه هم ډېر ستړی یم منزل لټوم
لکه ورک وری له موره ګرځم پسې
د هر یو ښار غېږ کې کابل لټوم

خو ورته وایم چوپه خوله به څه کړم
خوږه پښتو به مې کنځله ګڼي
انګرېزي سوټ به اغوستل نه غواړم
خړه جامه به مې شډله ګڼي





رانه هویت به په خپل کور کې پوښتي
په هره لار به قاتلان ولاړ وي
بوی به ترې راشي د افغان د وینو
لا به په سرو غوښو لېوان ولاړ وي

ما خو په بل شان وو کابل لیدلی
ها د موسکا او محبت ټاټوبی
خدایږده د چا نظر ایرې ایرې کړو
هاغه د پوهې او اهلیت ټاټوبی

اوس پرې راټول دي د نړۍ ټپوسان
له شمله ورو نه خالي پاتې دی
ها په اسیا کې د بازانو وطن
له سترګورو نه خالي پاتې دی

دې انقلاب ځپلي ښار ته چې ځې
په زورواکۍ به چارواکۍ ته رسې
لاس به دې ښه له خپلواکۍ نه مینځې
ځان به پلورې بیا به څوکۍ ته رسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې بدل شو غل يې مول نه وهي
ګرځي په سوټ يا په پوځي جامو کې
اوس تښتوونکي بنديان غره ته نه وړي
اوس يې ساتي د وزارت کوټو کې

نه چوپ کېدی شم نه ناندرۍ وهلی
د تجاوز له وکيلانو سره
ساده سړی يم معامله نه شم کړی
د واکدارۍ له مداريانو سره

نو ای! ملګرو دې مقتل ته نه ځم
چې چېرته کونده چېرته وينم بوره
څوک پر صليب د جمهوريت ځوړند دي
د چا سر غوڅ دی د جهاد په توره

ډېر معذرت غواړم درتللی نه شم
دا د وحشت ځنګل زغملی نه شم
د قام د لوټ تماشه نه شم ليدی
لغړ بدن نور ويلولی نه شم





## غزل

نن بيا دې چې په شونډو بهانې راوړي دي
له ميو نه دې تشې پيمانې راوړي دي

پروا مه کړه اشنا ستا د وصال هرې ګړۍ ته
په موتي کې د زړه مې زمانې راوړې دي

حضور ته دې جانانه بې سينګاره نه راځم
هر تار کې د ګرېوان مې دُردانې راوړي دي

اوس خود به بار وو د خړ سېلاب په اوږو کډې
ناوې ته مو ملګرو آشيانې راوړي دي

دا زړې مې د څړيکو دي په وينو ټوکېدلي
په شعر کې مې چې کومې ترانې راوړي دي

نور مه څاره د حُسن تماشې ته د چا سترګې
"حسن" درته د مينې خزانې راوړي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

څوک به کړي د عشق کیسه زه به دریاد شم
شي حواس به دې لمبه زه به دریاد شم

په تصویر مې که د وخت دوړې خورې شوې
مخ ته ونیسه آیینه زه به دریاد شم

کوم ماشوم به په خندا محفل ته درشي
درته کړي به اشاره زه به دریاد شم

په ناخوالو به د ورځې ځان غلط کړې
خو خوره چې شي تیاره زه به دریاد شم

مورکۍ به دې پوښتي سبب د اوښکو
ورته پیاز به کړې پلمه زه به دریاد شم

ناڅاپي به له همزولو شې اوچته
لاس به کېږدې په سینه زه به دریاد شم





## غزل

د ځوانۍ په هنګامو کې درته راغلم
لاس دې راکړه په تیارو کې درته راغلم

تاو پټۍ رانه ګلپاڼې د رخسار کړه
لکه اوښکې په ازغو کې درته راغلم

که هر څو وم بې باکۍ په مخه کړی
د حیا په بدرګو کې درته راغلم

د لندو شونډو په غېږ کې مې درتېنګ کړه
د الفت په سرو لمبو کې درته راغلم

ټول رازونه مې د زړه پکې ښکارېږي
د سندرو په جامو کې درته راغلم

د سرور په مسرت کې به دې ډوب کړم
د غزل په پیمانو کې درته راغلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



وې: "حسنه" ته او خدای چې څنګه ښکارم
ستا د شعر په آیینو کې درته راغلم

الوتلی یې د غم له ډاره رنګ دی
دا مې وینې دي چې بیا څاڅي له سترګو

دوه خوبونه پکې نه ځایږي یاره
چې مې خوب ستا په راتګ پاڅي له سترګو

ته چې د دښمن ترجماني کوې
څنګه بیا دعوه د شاعري کوې

اور او اوبه یاره یو ځای کېږي نه
یا به شاعري یا غلامي کوې





# غزل

څه دې په زړه اوري په ما ګرانه! راته وایه
مړې اوښکې دې ځي ولې جانانه! راته وایه

راکړه راته زړه زه به حواس په واک کې ورکړمه
ګرانه دا سودا ده که ارزانه! راته وایه

څومره مې د زړه غمونه نور خړوبول غواړې
وایه د سرو اوښکو بارانه! راته وایه

زړه زما نور څه وو خو بس کور وو د هر چا د غم
ولې دې کړه دا جونګړه ورانه! راته وایه

څوک چې درته وړاندې شي په پټو سترګو شي پسې
څو به لار ته نه ګورې افغانه! راته وایه

ډېرې مو تر پښو د وچو هیلو پاڼې خاورې کړې
څه غواړې لا نور د جنګ خزانه! راته وایه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه دې درنوم د روح اورې په محبت ډېرې
شوې که کله هم یاره ستومانه! راته ووایه

وژنم به شعور یا به د هر درد هرکلی کوم
کوم یو به "حسنه" وي اسانه! راته ووایه

بس چاره یې ستا وي بېله زما بېله
چې له غمه شو بې تابه مونږه دواړه

زه لېمې کړم له رنځو اوبو نه تشې
ته جام واړوې د سرو اوبو په غاړه





# غزل

ما له مودو دې کتل لار ته ګلې سترې مهٔ شې
راځه راځه مې د زړه ښار ته ګلې سترې مهٔ شې

شکر د روح بلبل دې راوړه اخېر ځاله ورته
زما خوشبو د غزلزار ته ګلې سترې مهٔ شې

زما پر جنون خو د ځوانۍ خاورې د زړه واوښتې
بیا هم راځې که دې مزار ته ګلې سترې مهٔ شې

بیا په وزرو د تیارو خیال ته راوالوتلې
په نیمو شپو د زړه ازار ته ګلې سترې مهٔ شې

کړې په نغمو کې له ګړنګ د رالوېدلو کیسه
غوږ شه د اوښکو مې ابشار ته ګلې سترې مهٔ شې

غوټې یې خلاصې کړم په غاښ که په بې صبره ګوتو
ښکلا دې راوړه چې دیدار ته ګلې سترې مهٔ شې

بیا دې ځولۍ چې د موسکا ډکه پر شونډو راوړه
څه دې راوړي "حسن" یار ته ګلې ستړې مهٔ شې

## یو شعر

اوس "حسنه" نه منې خو وخت به راشي
کړې بدن به دې قانع چې لاړې زوړ شوې

## یو شعر

راځه پرې ومینځو د زړونو خیرې
ته دې کوزه زه به پیاله راواخلم



په زخمونو کې سندرې

## غزل

لمر او باران غېږ په غېږ کېدل چې ته مې ولیدې
ما چې په خندا کې هم ژړل چې ته مې ولیدې

تش د زړه درزا که وای خو ما به پټه کړې وای
ټول غړي د تن مې رپېدل چې ته مې ولیدې

ستا نوي انځور ته مې لېمو کې ځای پیدا نه کړ
ټول پکې زاړه راغړېدل چې ته مې ولیدې

زړه کې مې چڼلې درته نن ډېرې خبرې وې
خولې ته مې کولپونه ولوېدل چې ته مې ولیدې

څومره مې ژور ژور کاته په نه کتو کې وو
ما چې ستا په لور نه درکتل چې ته مې ولیدې

ډېر مې تصویرونه د "حسن" په تصور کې وو
ټول له دې آیینې وکوچېدل چې ته مې ولیدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ته به ټوکې کړې یاره کیسې به ترې نه جوړې شي
مه راوړه لاسونه تماشې به ترې نه جوړې شي

نور مې په ایرو کې د حسرت لاسونه مه وهه
سا به پکې پو کړې تلوسې به ترې نه جوړې شي

څه مې د سلګیو په انګار د اوښکو تیل شیندې
پرېږده چې ایرې شي سرې لمبې به ترې نه جوړې شي

نن که درته سپکه د ضمیر ملامتیا ښکاري
یاد لره ظالمه! زولنې به ترې نه جوړې شي

مه مرورېږه نور مې ځای نشته په ډک زړه کې
ته به کوې ناز خو فاصلې به ترې نه جوړې شي

مه تکراروه کړي لوظونه پرې "حسنه" بیا
پام کړه وارخطا به شي پلمې به ترې نه جوړې شي





## غزل

تل غبار له ذهنه مینځم چې ځلاند یم
خپلوم نوي فکرونه چې لا تاند یم

بیابان غوندې نصیب مې دی په برخه
چې هر دم د بوړبوکۍ غوندې هڅاند یم

له هر لفظ نه مې خوشبو څاخي د فکر
لکه ګل په سلو ژبو ژبغړاند یم

که عالم مې کړي چوپړ ارام مې نشته
لکه یم په دې لویۍ کې هم څپاند یم

څه احساس د تنهایۍ به کړم "حسنه"
چې ملګری تل د نوي اند و واند یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

مه شرمېږه یاره د جذبو خبرې پاتې دي
پورته کړه باڼه د پښتنو خبرې پاتې دي

نشم شرنګولی د لندن د مېخانو پیالې
زما خو په غوږو کې د بنګړو خبرې پاتې دي

ما ورته ځولۍ د زړه تنهاکې ویرې کړې دي
څومره دې لا نورې د سلګو خبرې پاتې دي

نه شم درکتی نه غږېدی شم خوله مې وچه ده
ډېرې مې په زړه او په لېمو خبرې پاتې دي

شور به شي غوغا به شي که خوله يې هم ګنډلې وي
لا خو د "حسن" د زولنو خبرې پاتې دي





# غزل

غم دې چې نه وي په دردونو کې به څه پاتې شي
زما د زړه په کنډرونو کې به څه پاتې شي

خدای دې لرې زمونږ د مینې درد اشنا کنه نو
ستا په غرور زمونږ په زخمونو کې به څه پاتې شي

خپلواکه ژوند مو سرمايه ده که مو دا هم بایلود
زمونږ د تاریخ په کتابونو کې به څه پاتې شي

ژوند مې ستا مینې ګلورین کړو یاره ته چې نه یې
ددې چمن په سرو ګلونو کې به څه پاتې شي

ښه ده ناخوالې دې احساس تخنوي دا که نه وي
"حسنه" ستا په غزلونو کې به څه پاتې شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

زمونږ سمندر ژوند باد و باران ته غوړولې غېږ
مونږ لکه ساحل چې هر توپان ته غوړولې غېږ

پوچ ذهن کې زيږي د مذهب او د توکم توپير
مونږ د ژوند پړاو کې بس انسان ته غوړولې غېږ

سپک مې ګوندې درد لکه تناکې شي پر سرو اوښکو
تل مې چې اوښکن غوندې دوران ته غوړولې غېږ

پاتې يې د پلونو راته نخښې شي دوی وړاندې ځي
مونږه لکه لاره هر کاروان ته غوړولې غېږ

ژوند د ارزوګانو په تکميل شي بيابان غوندې
ما ځکه تراوسه تش ارمان ته غوړولې غېږ

دا مسلک د مينې هم "حسنه" درجې لري
څوک يې مينه غواړي چا جانان ته غوړولې غېږ





## غزل

برند به ورته ګورې په سلګو خبرې نه کېږي
نه کېږي ظالم ته په جرګو خبرې نه کېږي

راشه په مچکو چې د زړونو غوټې وسپړو
ټول عمر خو ياره په لېمو خبرې نه کېږي

چټ د غره پښتون وي خو چې کله ښار ته مخه کړي
هېڅ ورسره نور بيا په پښتو خبرې نه کېږي

وار وکړه زاهده! په قسم چې غږ دې نه اورم
شرنګ کې د پيالو خو د توبو خبرې نه کېږي

راشه چې د لمس په حس کړو ماتې د مودو تندې
هسې هم په يوه شپه کې د شپو خبرې نه کېږي

بيا به د خنجر ژبه راباسي په دې وخت پسې
بل رنګ ورسره د پښتنو خبرې نه کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېنه چې دمه دې بوړنېدلې تلوسې کړمه
یاره په راتلو کې خو د تلو خبرې نه کېږي

روح ته دې ورزده کړه د خپل وریت احساس د سوز ژبه
تش په خوله "حسنه" د جذبو خبرې نه کېږي

بې له تا یې له بل کار نه لاس اخیستی
لکه نیت چې مسافر وکړي وطن ته

له طبیب نه خلک چا دي منع کړي
په پلمه د ناروغۍ ورشه "حسن" ته





# غزل

اوربل غونډې چې ستا مو پرېشانه زندګي ده
ښکارېږي چې له مونږه پښېمانه زندګي ده

یو پېټی د غربت دی چې له وخت سره درنېږي
بل بار مو په اوږو دا سرګردانه زندګي ده

فکرونو کې مې شور دی اندېښنې مې دې کړې ستړې
جانانه بې له تانه ډېره ګرانه زندګي ده

یو پت دی یو پښتون دی بل ازغي د وخت د جبر
بل دشته د غربت ده او ستومانه زندګي ده

درزا زمونږ د زړونو ده ښکالو د وخت، تیرېږي
د اوس لاس کې ګړۍ زمونږ جانانه زندګي ده

بس ستا دا ورانه مینه ده چې اوس هم پکې خاندو
کنه زمونږه نوره څومره ورانه زندګي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



حېران یم چې به څنګه راکې بیا ساه ننوځي
په مونږ پورې خو دلته هم حېرانه زندګي ده

مونږ خپله په غېرت او په پښتو ده ګرانه کړې
چې ټیټ سر پکې ګرځې بیا اسانه زندګي ده

د خولې به یوه معافي یې په سلګونو مرې معاف شي
نن بیا د پښتنو څومره ارزانه زندګي ده

ډیوې مې د احساس په مړې کېدو دي تروږمۍ ده
"حسنه" څومره پاتې دې ناځوانه زندګي ده

**یو شعر**

په لټون کې د سایل دي سرګردانه
پیرزوینې یې خورې په بحر و بر دي

**یو شعر**

په بیدیا د زړه مې ویرې کړې غزلې
قافله د غزالانو پرې تیرېږي





# غزل

پیدا مې سترې مینې کړله لار په آیینه کې
ښکاره یې شو انځور ستا د رخسار په آیینه کې

امید هم رانه لاړو بس شو پاتې ستا نظر ته
یو زه او بل مې درد د انتظار په آیینه کې

توپان د پېغلتوب چې پکې څنډه وهلې څڼې
په هر طرف یې خور کړ انتشار په آیینه کې

بدل که مې یو غم شو په غمونو زړه چې مات شو
نو څه خو تصویرونه شول کتار په آیینه کې

په ډک محفل کې څه ګورې په ځیر ځیر زما مخ ته
بربنډ به دې د مینې شي اسرار په آیینه کې

چې سره شوه له حیا ما هم کړې برندې سترګې ټیټې
نقاش شوم د رنګونو د اظهار په آیینه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شکلا چې پکې ګوري او پردېس "حسن" وریاد شي
په سوړ اسویلي جوړ کاندي غبار په آیینه کې

پر خپلوانو چې هم پېټې شي نور څه وي
خو بس ووځي څو پوکي د سا له مړه نه

د حُباب غوندې به وچوي "حسنه"
د لویي هوس دې وباسه له زړه نه

لږ مو پرېږده چې خپل غم پکې راټول کړو
زمونږ سترګو دي د نم لمنې ویړي

ستا د ظلم روایات که لا ژوندي دي
ورته مونږ هم دي د زغم لمنې ویړي





# غزل

زړه ته مې راشي پخوانۍ خبرې
چې چېرته واورم د مستۍ خبرې

هم به کړي تا هم به کړي ما لوخړه
بس د تعصب به کړو سپرغۍ خبرې

ته دې فارسي زه به پښتو وایمه
خو کړو به یاره افغانۍ خبرې

په نیمه شپه دې ورته وروستلم
تا چې ماښام کړې د سپوږمۍ خبرې

ترېنه ګلونه مې پر زړه غوړېږي
په ناز چې کړې راته غوټۍ خبرې

د شاعرۍ کافر کمال ته ګوره
له خولې مې باسي د ځوانۍ خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هسې براس باسم د زړه "حسنه"
اوري مې څوک؟ دا لېونی خبرې

جوړه شوې له سلګيو او غوغا ده
نااشنا چې ورسره ټوله دنيا ده

زړه د مور غواړي هر څوک نه پرې پوهېږي
زمونږ پر خوله باندې لا ژبه د ژړا ده

له ولس نه په لوړ فکر راټوکېږي
خو پر مونږ راتپل شوي رهبران دي

دا هم جبر د حالاتو دی "حسنه"
دا په فکر ماشومان چې مو مشران دي





## غزل

دا کسي او بانه دې کړي خبرې په لېمو کې
که تورې توتکۍ وهي وزرې په لېمو کې

هر څو که مو سا تنګه وه د ساندو په موسم کې
پاللي مو په سرو اوښکو سندرې په لېمو کې

نظر به مې پروا د تغافل د غشو څه کړي؟
اغوستې يې د اوښکو چې دي زغرې په لېمو کې

زرې زرې مو کړلې مرغلرې په لېمو کې
چې پيل مو د مينې کړې ډغرې په لېمو کې

نظر چې مې ډاډه په کړلېچونو کې د ناز ځي
د اوښکو ورسره درومي لښکرې په لېمو کې

له څه نه به دې حُسن پنځولې دومره لوړې
که نه واې د "حسن" د عشق ژورې په لېمو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

مجبور یم له فطرته د ذلت په لاره نه ځم
پښتون یم له پښتو د بغاوت په لاره نه ځم

نری د صراط پُل شو د الفت په لاره نه ځم
جانانه ستا د حُسن د قیامت په لاره نه ځم

چې تاته شي محل او په ما ړنګ کړي دېوالونه
اشنا درسره نور ددې اخوت په لاره نه ځم

ما پرېږده، ته زبېښه کله شراب او کله وینې
په نوم د تمدن دې د وحشت په لاره نه ځم

سرخېل که شوم د مینې نو ته ولې برند راګورې
جنت ته خو به شېخه د نفرت په لاره نه ځم

چې بوخت وم تل "حسنه" د خپل ځان په پېژندنه
اوس هم هغه ملنګ یم د شهرت په لاره نه ځم





## غزل

راشه واوره د جرس فغان د اوښکو
درته رامې غلی اشنا کاروان د اوښکو

لا د زړه په سترګو چا نه دی لوستلی
زما د مخ په زېړ کاغذ دیوان د اوښکو

وې: دا اوښکې مرغلرې او ستا غټې زړه؟
ما وې: پروت دی په دې غره کې کان د اوښکو

د هر څاڅکي په آیینه کې یې انځور یې
راشه وګوره زما جهان د اوښکو

ښه راغلاست چې ستا د غم ورنه هېر نشي
په خندا کې هم کوم ګردان د اوښکو

کاشکې ستا څړیکو ته بل څه راسره وای
درته رامې ووړ اشنا درمان د اوښکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هر زړه په دروازه کې مې نارې کړې
يو مې هم نه کړ پيدا مېزبان د اوښکو

پرې کرم د چا يادونه ورته ژاړم
غواړې للمه مې د زړه باران د اوښکو

په بې درده اشنايانو کې اوسېږې
چې لېمې شوې د "حسن" زندان د اوښکو

ځان کړه عادت له ښويېدلو سره
کله به بېرته ابتدا ته راځې

ژوند کله وي تګ په شګلنه لاره
په مخ چې درومې لږ به شاته راځې





## غزل

ته وا د ميو په پيالو کې موسېدل رنګونه
ما چې په ګوتو ستا د شونډو تخنول رنګونه

زما په تګ دې چې تر ډېره ښورول لاسونه
د بوډۍ ټال شوې په هوا دې زنګول رنګونه

پکې نن بيا شفق خوره وه د افق لمنه
ستا په ګلشن کې د رخسار يې ټولول رنګونه

مصور خيال مې جوړوۀ ستا د يادونو تصوير
د زړه زخمونو مې له پاسه پرې شيندل رنګونه

کله خورې کله به يې ټولې کړې په سپين مخ څنې
سترګو که جنګ کړو خو لاسونو لوبول رنګونه

هغه شيندل پرې د ګلونو کړمه څنګه انځور
بس په رنګونو کې "حسنه" لمبېدل رنګونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

يو لمس ته د نظر مې ضرورت لرې کنه
په مړو سترګو کې اوس هم شرارت لرې کنه

راوړي مې مچکو ته پيالو پسې پيالې دي
په تنګه خوله کې دومره سخاوت لرې کنه

تسپې خو درنه شېخه برېتور وشوکولې
اوس بل کوم يو معيار د عبادت لرې کنه

مونږ توی شو څاڅکي څاڅکي ته له ډک زړه نه اشنا
بيا هم لکه وريځې شکايت لرې کنه

وږمه يې کړه راچف زلفې دې څنډه وهه په ناز
څه دم د ناروغانو د الفت لرې کنه

په اوښکو که د زړه د غم وينځل شو ناروا
"حسنه" د شرابو اجازت لرې کنه





## غزل

په لار کې به دې تم کړمه شرمېږې خو به نه
لمن به دې راونيسم ډارېږې خو به نه

نور لپه کې د زړه نشم د راز سکروټې وړی
ستا نوم که په خوله راغلی منکرېږې خو به نه

انګار له ډېرې مينې شه په پټه خوله مې سوځه
رسوا مې نه کړې کلی دی لوګېږې خو به نه

لمبې مې د جذبو ځغلي رګونو کې ډارېږم
سپينچکه لکه کوچ يې ويلې کېږې خو به نه

دې زړه کې مې چې ګرځي کنه غم ته ورکړه لاس
دا ښار دی ګڼه ګوڼه کې ورکېږې خو به نه

بل جام چې يې د شونډو راته ونيو راپه غوږ شوه
وې: لار کې چې "حسنه" ځې زنګېږې خو به نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

تا چې په ما باندې رڼا خوره کړه
لکه آیینه ما دې ښکلا خوره کړه

شعر مې د درد ژبه احساس ته ورکړه
لکه شپیلۍ چې مې غوغا خوره کړه

هسې مو یو بل ته تر شا وکتل
خلکو زمونږ د عشق افوا خوره کړه

څومره مهین مې شول شډل شعرونه
ستا چې اروا پکې معنا خوره کړه

جنون پیرزو کړ زمانې راباندې
ستا محبت پکې سودا خوره کړه

لکه رڼا او اور سرحد نه لرو
په مونږ کې عشق یوه اروا خوره کړه





پکې پرته او ښکو امین ویلو
"حسن" چې لپه کې دعا خوره کړه

✵

دلته که کامیاب سیاست کول غواړې
تل به د غریب ولس ارزو وژنې

هسې څوک دوستي درسره نه پالي
یا به پښتانه یا به پښتو وژنې

✵

پرېږده چې اوري مې باران له سترګو
ستا چې بېدیا د زړګي جل وهلې

یو څو سلګۍ مې تر تا راوړې اشنا
نوره دنیا رانه ازل وهلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د څرېکو په آيينو کې

ته پيدا د ژوند په ورځ يې
لږ ترې لرې ځان کړې غلی
ته وا ډک دې دي لاسونه
پټاسو نه چې ژوند ځان ته
د ماشوم په څېر دربولې
چې د سترې سا په پلونو
په خندا هره ګړۍ دتا په لوري
درخوځېږي، درلندېږي
ته پابند کله د وخت يې
نه هويت له چا نه پوښتې
نه دې څرک نه دې درک وي
خو ناڅاپه کرغېږن مخ
راڅرګند لکه ښامار کړې
په يو چا باندې ورټوپ کړې
لا دې ژوند نه وي لوټلی
لکه برق زهر خواره کړې
په رګونو د سلګونو کې د نورو
په يو وار دې کاشکې يو انسان وژلی
نه دې شکل څوک ليدی شي
نه دې تن شي لمس کولای





نه ښکالو دې د قدم څوک اورېدی شي
بيا هم يو جهان د حُسن
د اميد او رڼاګانو
د خوبونو خنداګانو
د حسرت او هوسونو
د عدم په درياب ډوب کړې
تش يې پاتې شي ژوندو ته تصويرونه
د زخمي زړونو د څرېکو په آيينو کې
کاشکې دا پاتې داغونه
تصويرونه او يادونه
لولپه دې ورسره واى
چې يې مخ ته کونډو بورو
مرګه نه واى بلې کړې
هر ماښام ډيوې د اوښکو.

❋ د خپل ګران ۱۱ کلن خوريی (عثمان) د مرګ پر مهال

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ټولې خواوې د ژوندون څومره سپېرې دي
بيا هم هر سړي تاو کړي ترې پېرې دي

په دې نه يو چې څراغ دی او که شمه
بس رڼا ته مو خورې خپلې اېرې دي

دا ستا لويه کمزوري مظلومه دا ده
چې پر شونډو دې تراوسه لا ښېرې دي

که شکلونه دې د ظلم درنه هېر وي
زما د اوښکو په آيينو کې يې څېرې دي

که د غم د سمندر څپو کړې ستړې
پکې زما ټولې غزلې جزيرې دي

ګوري تل خپل ډېرين زړه ته "حسنه"
چې چړې يې د نظر داسې تېرې دي





## غزل

له لمبو راټوکېدله، له سره اور خوره وره شوه
د لوګي غونډې مې مينه، لور په لور خوره وره شوه

دا به ناسته وي چې چېرته، لکه ګل د رنګ جامو کې
زما د عشق لوڅه خوشبو خو لکه شور خوره وره شوه

اوس منم دې اسویلیه! زما دوړه د غمونو
په آيينه يې د مغرور زړه ستا په زور خوره وره شوه

خبر لوڅې خاموشۍ مې څه موسکا به نڅوله
اوازه دې د راتلو چې کور په کور خوره وره شوه

په دروند پنډ د پېغلتوب يې د حيا اوږې درنې شوې
چې دا ستا غونډې "حسنه" په مېخور خوره وره شوه

## غزل

وارخطا شوې د لېمو په مشغولا کې
څه به حال وي؟ ستا د زړونو په درزا کې

کله کله یې محفل ته داسې ورشم
لکه اوښکې د چا راشي په خندا کې

رنګ او نور خو سرنامې ددې کتاب دي
د ښکلا تفسیر یې پروت دی په اروا کې

له ژړا وروسته سلګۍ مې نورې څه وې؟
خو بس درد رخصت اخیست په لنډه سا کې

خیر که ستا له زړه چاودون نه راپیدا شوم
لکه بوی هسې دې خور شومه په خوا کې

ټوله ورځ زبېښم شراب په شپه کې شونډې
لاس مې شپه ورځ وي په غاړه د مینا کې





دا د زړه سودا "حسنه" څه کم سود دی؟
نور څه غواړې؟ د دنیا په دې بیدیا کې

---

په خالي زړه او پړسېدلې خېټه
هومره یې پوه چې چل د غلا څنګه وي

په معاش بدمعاشه تاته څه پته ده
چې د نهر ماشوم ژړا څنګه وي

---

یمه شاعر هنر د مینې لرم
په نا آشنا نظر آشنا به دې کړم

اوس مې خطا په ټیټو سترګو نشي
وار به دې راشي وارخطا به دې کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ما لکه سره اوسپنه لمبو ته لپه ونیوه
اوس مې چې د سرو اوښکو اوبو ته لپه ونیوه

بېل د هر سړي وو د دنیا په غمکده کې ذوق
چا د سترګو اوښکو چا پیالو ته لپه ونیوه

خود به مې خُمار د بې باکۍ ناځي په سترګو کې
ما د وخت  د څړیکو پیمانو ته لپه ونیوه

بس په دې توپیر لوړو ته لاړو له ژورو نه
دې زما الفت ما یې ارزو ته لپه ونیوه

چا د سوکالۍ له میوډک ځان ته خمونه کړل
چا یې د مارغه غوندې قطرو ته لپه ونیوه

نورو تنده غرو سرابونو پسې منډې کړې
مونږ د ژوند په دښته کې پښتو ته لپه ونیوه





پوه نه شوه اوبه یې له منګي پکې راتویې کړې
ما یې چې د سرو سترګو کاسو ته لپه ونیوه

چا راټوله کړې د ګلمخیو اواره مینه؟
تا څنګه "حسنه" دې خوشبو ته لپه ونیوه

٭

پرمختګ یې لا د خېټې هوس زیات کړ
هر نظام یې د ستم نوی هنر دی

هسې شکل او انداز یې بدل شوی
د بشر سره جوړه راغلی شر دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

راشه حال د زړه د پرهرونو درته ووایم
پټ به یې په ژبه د دردونو درته ووایم

تا که حال د زړه رانه پوښتی او خوله مې وچه وه
څه خو به د خوږ زړه په ټوپونو درته ووایم

څومره یې چې پالم هومره نورې غزونې کړي
کوم سوی داستان د ارمانونو درته ووایم

تا خو د ادا په ژبه خپل عشق ژبغړانده کړ
زه به خپل د شعر په تصویرونو درته ووایم

وې پکې تصویر د پرهرونو د هر چا د زړه
څه به دې "حسنه" د شعرونو درته ووایم





## غزل

سترګې دې بیا راته هېندارې نه شوې
پېغلې جذبې پکې سینګارې نه شوې

په پخواني نظر دې ونه کتل
له زړه نه زړه ته جوړې لارې نه شوې

ستاسې هم ختم تهمتونه، نه شول
زمونږ لمنې هم داغدارې نه شوې

یواځې شعر او طبابت خو نه دی
نورې هم پاتې رانه چارې نه شوې

زړه مې هر څو که کړو بې باکه مینې
پښتنې سترګې مې سرشارې نه شوې

لاړې واپس ستا په بې غوره کتو
اوښکې مې سترګو کې ایسارې نه شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تولې خبرې مې په زړه پاتې شوې
شونډې مچکو نه وزګارې نه شوې

لا یې زانګو کې زنګوم د مراندو
د زړګي څړیکې مې کرارې نه شوې

نن یې بې باکه ورکتلي نه دي
چې د "حسن" جذبې خُمارې نه شوې

ګوره مې سترګو ته هم کله کله
هره خبره خو پر خوله نه کېږي

تش د "حسن" په وارخطا لفظونو
تل د مینې خو د زړه نه کېږي





# غزل

اور راکې مړ کړئ کور د شر خو نه یم
د چا وطن یمه مجمر خو نه یم

لا خو مې هسکه ده جنډه د شملې
نهر به یم لاس په ټټر خو نه یم

غمه اخیر خو به دې کړمه چاره
ترڅو به ژاړم سمندر خو نه یم

هو! له غربت به ترهېدلی ښکارم
خو ستمګره ترهګر خو نه یم

درد خو به ژاړمه ظالمه د ځان
اخیر انسان یمه کمر خو نه یم

تل کړم د زړه د تل وینا "حسنه"
شاعر سړی یم څه نوکر خو نه یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

څرېکې مې زخم کې ټومبلې چاته نه ښکارېدم
زړه مې په وينو لمبولې چاته نه ښکارېدم

خور به په درد مې شو حجاب د دروغجنې موسکا
ما که په زړه چړې خوړلې چاته نه ښکارېدم

ستا خو پر مخ اوښکې راتلې ما د تنهاکو غوندې
د زړه په غولي ګرځولې چاته نه ښکارېدم

تش په يادونو مې کلونه په څادر د شپو کې
هيلې د وصل غولولې چاته نه ښکارېدم

چې لږ به هم شومه وزګار رېبارې څرېکې مې ستا
مراندو د زړه کې زنګولې چاته نه ښکارېدم

عمر مې ټول د سردمهرۍ تر واورو لاندې د چا
کرلې هيلې که پاللې چاته نه ښکارېدم





دنيا ويده وه کرۍ شپه ما د ارمان په څلې
شمې د اوښکو بلولې چاته نه ښکارېدم

د غريبۍ په ګرد کې پټ وم کنه ما "حسنه"
جذبې هر چاته غوړولې چاته نه ښکارېدم

پرې د څو غټانو ګرم دي جېبونه
ددې چم چې په وګړو اور بلېږي

چې محل ته يې لمبې ونه رسېږي
تر هغه به په جونګړو اور بلېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شعر اروا

زه کړم قلم د زړه له وینو نه ډک
د پرهرونو د کتاب پر پاڼه
پېیم په شعر کې د دردونو توري
هاغه پرهر ته ورکومه ژبه
چې یې وي ګونګې ربړیدلې څړیکې
په خوړین ټټر کې له مودو ایسارې
جوړ کړم د شعر له هر یو توري کنډول
راټولوم پکې خیرات د اوښکو
له ډبرینو زړونو تراشم آیینې
ورته ښکاره چې شي تخلیق د ښکلا
چې پکې ووینې تصویر د مولا
ګرځم د زړونو په آیینو کې کرم
د محبت د ملکوت سندرې
چې کړي سیقل د ترنم په ګوتو
ددې هېندارو د نفرت زنګونه
داسې وزرې په شعور کې تومبم
چې له حواسو نه اوچت والوځي
په خپل الوت کې کاینات راټول کړي





د کوه طور د نور زکات راټول کړي
شته چې زما په شاعرۍ پوهېږي
زما په دې بنده غوټۍ پوهېږي
د زړه په سترګو یې رنګونو ویني
ددې لاله د زړه داغونه ویني
خو ځینې شته چې مې د شعر هېنداره
سترګو ته ونیسي نظر یې یوسي
لیې د ذهن یې کوچنۍ وي دومره
چې له دریابه مې د شعر د اروا
راوخلي دا یو څو د تورو څاځکي
چې ته شاعر یې دا منو درسره
خو راته وایه چې مَېن په چا یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

په خولو د سوز و شرم لمبېدله ورو په ورو بیا
تر سهاره لکه شمه بلېدله ورو په ورو بیا

چې یې لمر په کنګلونو د تودې مینې راوخوت
یوه څرېکه مې په زړه کې بهېدله ورو په ورو بیا

ما هېنداره د نظر کې راپیدا نوي جوهر کړل
ستا د حسن حېرانې که زیاتېدله ورو په ورو بیا

زه فنا ستا په وجود کې لکه ستوری د سحر شوم
چې رڼا لکه د لمر دې خورېدله ورو په ورو بیا

الوتلې مې په روح کې څه ورېمې ورېمې خبرې
چې غوټۍ خوله یې "حسنه" غوړېدله ورو په ورو بیا





# پړک

ژوندون څه وو؟
د فطرت په چاودو شونډو
د مرموزې خندا پړک وو
په غریب غونډې ماښام کې
په الوت لکه شرر وو

یا ځلا وه د سرو زرو
د شفق په سره امېل کې
یا کیسه د زړه چاودون وه
د غوټۍ په سره کوګل کې

یا څو څاڅکي وو د پرخې
پېغلوټو د ګلپاڼو
په ناز څرک ته وو نیولي
د ورغویو په پیالو کې

سحر واړول په غاړه
د بهار په مېخانه کې
د زرین لمر په پیاله کې

نور یې له خپلې حافظې وباسه
د ځینو خلکو رقابت درسره

نن که حسد درسره کړي "حسنه"
خیر دی اخیر به شي عادت درسره





# غزل

دومره مې ژر د زړه درزا ولې شوې
راسره مل لکه سودا ولې شوې

په نه راتلو دې خطا کار ګڼلم
چې لاس مې دروړ وارخطا ولې شوې

دا خو هېنداري وې زما د اوښکو
پکې ښکاره څېرې دتا ولې شوې

د تندر پرک دې کړو رسوا اسمانه
دومره بخیل په مونږ بېګاه ولې شوې

لا مې حواسو کې نغښتلی نه وې
زړه کې مې خور لکه اروا ولې شوې

راپسې بلې دې وې شمې اوښکې
چې درته راغلم په ژړا ولې شوې



(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې خبره مروره وې ته
په دې خبره راپخلا ولې شوې

ستا په ګناه مې شپېلوي هډوکي
پښتونولۍ! راته بلا ولې شوې

دا خو يو بيت وو د "حسن" د غزل
په نه خبره مې اشنا ولې شوې

زورور برخه د بل لکه حېوان خوري
انسانان لا يو او بل لکه کبان خوري

بې دانې چې لکه پلونه شي د ژرندې
بيا تهذيب کړي تماشه انسان، انسان خوري





# غزل

پرهر وطن کې د دردونو کيسه چاته وکړم
ټول لاله زار دی د داغونو کيسه چاته وکړم

په پښتو ژبه خو وينا بله ګناه ده دلته
زه په شرنګا د زنځيرونو کيسه چاته وکړم

څنګه يې وکړم او له چا نه يې تعبير وپوښتم
هاغه د زړونو د ټوپونو کيسه چاته وکړم

دا د ټيټ سرو په نظام کې پرې څوک څه پوهېږي
په دار د ځوړندو سرونو کيسه چاته وکړم

ستا د يادونو په خوشبو د پردېس شپې تېروم
په دې خزان کې د ګلونو کيسه چاته وکړم

د شوکمارانو په ټولۍ کې رانه ورک شو څاروان
د لوټ کاروان د جرسونو کيسه چاته وکړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته زما او ستا زګېروي تر غوږو چېرته رسي
وطنه! ستا د پرهرونو کیسه چاته وکړم

سپېره نصیب مې د بې دردو په مالت ګرځوي
د درد په ژبه د زخمونو کیسه چاته وکړم

څوک دې "حسنه" اسویلی باد چې زغملی نشي
ستا د سینې د توپانونو کیسه چاته وکړم

## یو شعر

نوره بس کړه شاعرۍ څه ترې نه غواړې
اشنایان دې ټول "حسنه" رقیبان کړل





## غزل

ټوله شپه دې انتظار وم ته رانه غلې
پروت په لار کې دې غبار وم ته رانه غلې

ما رسۍ ته ستا د لېچو غاړه راوړه
ستا د مینې سزا وار وم ته رانه غلې

ما وې: ته به مې په غېږ کې ترې راکوز کړې
ځوړند ستا د خیال په دار وم ته رانه غلې

زلمیتوب مې کړې بیا وې غزونې
نن چې بیا زه ګناهګار وم ته رانه غلې

د لومړي دیدن په ځای کې درته ناست وم
بله شمه په مزار وم ته رانه غلې

په پرهر د انتظار کې چورلېدمه
په اوږو د څړیکو بار وم ته رانه غلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د "حسن" د اسمانڅک تخیل ناوې
نن چې ټول خمار خمار وم ته رانه غلې

دا مې آیینې ته د اوبو وکتل؟
چې په لیدو یې ګېڼۍ واخیستم

رښیا ده مینه خوی د میو لري
زه چې په تیر عمر مستۍ واخیستم

په لحد کې یې پراته مړي هم اوري
خو بس ستا تر استانې نه دررسېږي

د بګرام له جېلخانې وتلې کوکې
څنګه ستا تر ګلخانې نه دررسېږي





# غزل

خاموشي یې لا په شونډو انتظار کړ
شور د مینې یې په سترګو کې اظهار کړ

مونږ رندان هم زړونه وینځو په شرابو
شیخ که لرې په اودس د مخ غبار کړ

نه مو ځان او نه مو خدای ته وخت پیدا کړ
بس ټول عمر مو غټانو ته بیګار کړ

په وعده مې د یوه مرګ سره وفا کړه
چې د هر ساعت له مرګه مې انکار کړ

ورانوي اوس پرې د خپلو پلونو نخښې
دې مقام ته یې چې تګ په کومه لار کړ

څه به ستا له دې مالګین چلند نه ژاړي
چې ازل "حسن" ته ژوند لکه انګار کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

بیا یې په سرو شونډو د الفت لفظونه، نه راځي
رایې شي په زړه خو یې په خوله لوظونه، نه راځي

شاید چې مو تګ د ژوند له پښو نه غورځولي وي
اوس چې مې حجرو ته د لېمو خوبونه، نه راځي

څنګه ورته ورشي ته چې وایې ترې نه ځار به شم
زړه ته خو بې سته پښتانه غمونه، نه راځي

مه لېږه شاعره هر وخت سترې اندېښنې پسې
ګوره په بلنه لکه خوب شعرونه، نه راځي

زما په سوي سوي اسوېلو یې جوړ سپېره شو مخ
هسې خو بې باده په آیینو ګردونه، نه راځي

شک مې شو پیدا په حقیقت ستاسې د عشق باندې
اوس چې دې "حسنه" په اشنا شکونه، نه راځي





## غزل

خلک شول هوښیار دوی د دنیا لمن نیولې ده
زه شوم بوړبوکۍ ما د بیدیا لمن نیولې ده

پورته دې کړه سر درنه یتیم ته درویزه غواړي
مشره! د شهید بابا اروا لمن نیولې ده

پوه شوم طریقت د غلامۍ هم سلسلې لري
ده د خپل بادار دوی د پاچا لمن نیولې ده

دا چې زمونږ د وینو سیند کې ځي د خپل هوس په لور
ډوب به شي دې خلکو د هوا لمن نیولې ده

څه مې وېروې اوس دا که جګ نه وي نو غوڅ به دی
ما خو دې خپل سر ته لا پخوا لمن نیولې ده

مه سپړه "حسنه" د پښتون د جهالت تاریخ
اوس هم چا د پیر چا د ملا لمن نیولې ده

# غزل

وړي ترې نه قرار ورته صنم لمنه ويره ده
زړه مې ورته بيا د خپل حرم لمنه ويره ده

مونږ نه خو د ژوند لاره کې لوټ شوې خندنی شپې
غواړي رانه څه چې راته غم لمنه ويره ده

ته يې چې لا موږ لکه وريځې په ژړا نه يې
زه يم چې مې اوس هم لکه يم لمنه ويره ده

مونږ خو يې ستم زغمل په خپله لوی ستم ګڼو
ځينو لا ظالم ته د کرم لمنه ويره ده

نه کړي شور جانانه خوبولي ارمانونه مې
بيا مې پرې د سرو اوښکو د نم لمنه ويره ده

شپه ده پردېسي ده خو ګلرنګه تصور کې ستا
سترګو مې ستا رنګ ته د شبنم لمنه ويره ده





پرېږده که دې حُسن د غرور له خويه نه اوړي
نياز مې د الفت ورته د زغم لمنه ويره ده

څه وکړو "حسنه" که رااوري د ستم ږلۍ
مونږ هم ورته لاندې د قلم لمنه ويره ده

ويـر يې کړ شال د پېغلوب رابانـدې
چې د ځوانۍ د خوب زانګو کې زانګم

جوړ يې کړم ځونډۍ د الفت په ګوتو
کله رباب کله تسپو کې زانګم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

نور مه پوښته په منډه ترې حالونه د زړګي
لړ پرې یې ږده چې کم یې شي ټوپونه د زړګي

حېران یم چې به څه کړي په اوږو مې پرښتې
شمېري به مې ګناه که پرهرونه د زړګي

راځه ورته ډاډه که هر څو وينې پکې ډنډ دي
ولاړ مې دي لا یاره دېوالونه د زړګي

بس ږدم یې په تڼاکو د تودو وینو نکریزې
پردېس یم چاته وسپړم زخمونه د زړګي

چې نه دې ګرېوان چاک دی نه دې سر ببر دی
څوک څه وینې "حسنه" ستا چاکونه د زړګي





## غزل

زړه کې مې مېلمه د عشق د غم شه چېرته ځې رانه
څو شپې په دې حجره کې تم شه چېرته ځې رانه

ستا چې د احساس په وچ ډګر څړیکې راوټوکي
زما د غریو نیولیو سترګو نم شه چېرته ځې رانه

پورته ترې خپسې کړه په ساز د مستانه خندا
مراندو ته د زړه مې زیر و بم شه چېرته ځې رانه

نشم تلی بې څړیکو ددې ژوند په پرهرونو کې
وړاندې لکه غم مې یو قدم شه چېرته ځې رانه

راشه لکه پرخه یې په وړانګو کې درټولې کړه
نن مې د ویرژلو اوښکو زغم شه چېرته ځې رانه

ډېرې به لا لیکو د "حسن" د زړه چاودون کیسې
زه به شم هنر ته مې قلم شه چېرته ځې رانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

بیا د اشنا مې مېلمنې دي سترګې
نن مې چې بیا بلې ډېوې دي سترګې

ما خېژولي یې اسمان د عشق ته
لکه سپوږمۍ چې درپسې دي سترګې

څنګه راټول دي پکې حُسن کړمه
دې سمندر ته خو کاسې دي سترګې

راشه چې ډوبه دې تقوا کړم پکې
په مستانه خُمار مې سرې دي سترګې

ته مو پر اوښکو تبه خړې نه شې
زمونږ په غمونو کې پخې دي سترګې

په دې شلېدلو جامو مه تېر وځه
یو به غریب خو مو مړې دي سترګې





"حسنه" دومره وچکالي خو نه ده
شونډې که وچې دي لندې دي سترګې

# یو شعر

شعر چې شي ریښتینی بې هنره شي
زه په ډېر هنر پکې رښتیا وایم

# پښتونه!

یوه له پاسه پرې شیندل لار کې ګلونه
دتا د مرګ ته چې راتلل پردي پوځونه

بل وهل چې په څپلیو درته ټول ژوند
ووهل یې ستا په سر هاغه مېخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

حضـور تـه دې پـه رپ کـې د بڼـو ځـم و راځـم
یـو خـوب د سـودايي شـم پـه شېبو ځـم و راځـم

هر څو مې که په برخه څوګړۍ يې وي په غېږ کې
سـاحل تـه دې د حُسـن پـه څپـو ځـم و راځـم

راستون له بې دردۍ دې شم چې درمې ولي غريو
بـس اوښـکه پښـتنه شـم پـه لېمـو ځـم و راځـم

بدل که مـې وي شـکل خـو همېش دغـې دنيـا تـه
هـم دې فطـرت سـره لـه زمـانو ځـم و راځـم

مشعل چې د تاريخ مې دی په لاس کې نـن نيـولی
سـبا تـه د پـرون پـه پلوشـو ځـم و راځـم

وهمـه کـه "حسـنه" لـه دنيـا سـره ډغـرې
يـو چاتـه پـه جرګـو خـو د سلګو ځـم و راځـم





## غزل

شـرم وي خـولې وي لېـوني زړونـه صـبرېږي نـه
عشق د شمعې اور شي په اوبو بانـدې مړ کېـږي نـه

لاس چې پر خوله آيينـه راتېـر شـي لا ځـلا وکـړي
چا وی: چې پر عشـق يـې د حيـا پـرده ماتېږي نـه

سـتا د خـولې يـاري لکـه اوبـه پـه ګرمـي والـوځي
زما عشق د غوړو غوندې خـوټېږي خـو وچېـږي نـه

پاتې وي پښتون که مـې هـر څـومره شـي رڼـا فکـر
څـانګې غزونـې کـړي لـه بـوټي نـه بيلېـږي نـه

څه وکړم که شوې رانه پرې ستا لېمې لندې غوندې
بحـر د جـذبو مـې د زړه لپـه کـې ځـايېږي نـه

ډېر مو که درانه غرونـه د غـم پـه سـر اخيسـتي دي
خوی لري د وربځو ځي روان دي پـاتې کېـږي نـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېږده طبابت د کوم ملنګ لمنه ونيسه
درد د عشق "حسنه" په دوا باندې رغېږي نه

لکه مارغان او لکه مستې ځپې
زمونږ نشېب وي د فراز لپاره

زمونږ سرونه چاته خم مه ګڼه
مونږ يې چې ټيټ کړو د پرواز لپاره

راپيدا که زړه چاودون ستا
زما وجود لکه خوشبو کړ

ستا پيغام يې په فضا کې
هرې خوا ته په ځپو کړ





# غزل

که مې زېړ رنګ د ضرورت نخښه ده
ستا موسکی خوله د سخاوت نخښه ده

چاره د پېښو به څوک څنګه وکړي؟
هره يوه دلته د قيامت نخښه ده

ما وې: د خولې په سوال مې پټه خوله شوې
وې: خاموشي د اجازت نخښه ده

په ټيټو سترګو دې خوابدی نه يم
دا په پښتو کې د الفت نخښه ده

پالمه دين د پښتونوالې سره
هم مې ايمان هم مې غېرت نخښه ده

"حسنه" سپک لوښی کړنګا ډېره کړي
ستا خاموشي ستا د عزت نخښه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

مونږه پښتانه يو مينې هم کوو د غلا غوندې
مونږ چې کړل خواږه دا ثوابونه د ګنا غوندې

بل څه کمال نه غواړي سياست زمونږ په خاوره کې
دروغ به داسې وايې چې ښکاره شي د رښتيا غوندې

څه وشو که دم رانه ظالم بېلتون اېستلی دی
ګرځي مې ستا مينه په رګو کې د اروا غوندې

زور يې چې تمام شي د ارمان د بړبوکۍ پکې
ويره مې د زړه ورته لمن کړه د بيديا غوندې

څوک به ښکلي پوه کړي چې د خولې ورکړه دی داسې شي
ځان او بل پرې دواړه شي خوشحاله د خندا غوندې

هله راڅرګنده د ملت د زوال نخښه شي
پټ چې حقيقت د خوف په ګرد شي د معما غوندې





څومره ژر رالنډې فاصلې د اجنبيت کاندي
يو د چا کاته په سترګو سترګو کې اشنا غوندې

کم دي چې پوهېږي د "حسن" د شعر په اند و واند
مه يې تعبير غواړه له هر چا نه د رويا غوندې

افسانې ته د دردونو مې عنوان شو
وو مېلمه د زړه حجره کې خو ميزبان شو

بيا ځواب د لېوني زړه راته ګران وو
له انکار نه چې اقرار راته اسان شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ستا پښتنې مينې ته پيغور نه شوم
ولوېدمه مات شومه خو خور نه شوم

جام لکه د ګل يمه هر تږي ته
تش له رنګ و بوی نه شوم نسکور نه شوم

مړ لکه حباب به شم که لوڅ شومه
زه پښتون خو مات د چا په زور نه شوم

چيغې يې د څړيکو زما تر خوله وځي
ستا د زړه پرهر ته که ټکور نه شوم

څه که له ګلپاڼو نه تراشم غزل
خور لکه خوشبو خو ستا په لور نه شوم

تا که د ملالو سترګو تور نه کړم
شکر دی چې ستا پر لمن تور نه شوم





تا څنګه کابل کې پيالې پورته کړې
زه چې په لندن کې هم مېخور نه شوم

يو مې ووړ "حسنه" ترې د زړه قرار
څه که يې پر شونډو باندې شور نه شوم

چېرته مې تنده د وطن ماته کړم
جنګ رانه دم د زندګۍ خوړلی

د ژبورو شملورو کابل
اوس د سرکوزو خاموشۍ خوړلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

لاړل لحد ته د کفن په تمه
وو چې زمونږ د ځنکدن په تمه

مینځم په اوښکو له بڼو ګردونه
بیا شو ماښام د دروغجن په تمه

کړې مو ډالۍ د پرهرونو جامې
هر یو ازغي ته د ګلشن په تمه

هم به شمیري د خپل غربت غمونه
هم به ګڼي شپې د وطن په تمه

دا د نظام د ناروغۍ نخښه ده
غریب چې ژوند کړي د شتمن په تمه

خدایه مړی یې له سلګو ډکه کړې
څوک چې دي زمونږ د ځنکدن په تمه





څوک به د یار څوک به د خوب غېږ کې وي
څوک به لا ناست وي د "حسن" په تمه

## یو شعر

رنځور ذهن کې د افلاس د اندېښنو وي
خو افراط د اندېښنو هم لېونتوب دی

زمونږ به روژه د پردېسۍ وي په زړه
د بختورو به اختر وي په کور

د چا به خوله کې خندا نه ځایېږي
د ځینو ځینو به محشر وي په کور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جنازه د شهيد زوی وه

زمونږ په کلي غوړېدلی
نوی نوی وو ځوړ منی
سپينې واورې يې له ځمکې ټولولې
لکه نوی تنکی ځوان چې
سپين پلو له پېغلې اخلي

د پستو ورږمو څپې وې
د (سليم) د ځوانۍ شپې وې
د واده خوږې شېبې يې
ته وا شاتو کې راشنې وې
چې په لپه کې د اوښکو
ده وه غوښتې له مولا نه
په هاغه غېږ کې يې شپې وې
ترې چاپېره پلوشې وې
يوه ورځ په درمنده کې
د ځوانانو مست اتڼ وو





د ډولچيانو سره څنګ ته
يو څو چټ ژېي ولاړ وو
يو يو لاس يې وو غوړونو ته نيولی
د ځوانۍ له شوره ډکې
په ډېر سوز يې غږنۍ سندرې ويلې
دی هم سپين څادر په کوت کې
د اتڼ په ننداره وو

يو ناڅاپه غږ د شوبلو
فضا ټوله کړه خيرنه
د سندرو ارواګانې
د وحشت خپسو يوړې
لکه وريځې چې په ورو ورو
د لوړ غره شاته راخېږي
هسې ناست په سر د شوبلو
د پوځيانو خړ سرونه
د کنډو تر شا ښکاره شول

په څپليو کې راتلې د زنځيرونو
ورو په ورو شوې راڅرګندې ټولې شوبلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ساده ټکو کې یو ځل
که یې بیا راته تکرار کړې
قوماندان په لوړ غږ نوم د (سلیم) واخیست
د خولې لاړې یې پرمخ د دهقان توی شوې
په دې منځ کې څوک له شانه
قوماندان ته ورپه غوږ شو
چې (سلیم) مو لاس ته راغلی
په یو ټانک کې مو تړلی

دې سره شوبلې شوې ټولې
د چاونې په لور کتار شوې

د (سلیم) په سپېره برخه
د زندان کوټه قلفي شوه
د مېرمن له سترګو لرې
ترې نه تاو پل څرخي شوه
غم د هجر یې په زړه کې
ارمانونه کونجلک کړل

د دوران څرخ څرخېدلو
د څرخي د پله زندان کې
د پنځو کالو واټن یې ووهلو





هلته لرې یو دهقان وو
بېل په مټ کشت ته روان وو
قوماندان قومانده ورکړه
چې راتاو کړئ دا کم عقله
څو عسکر پسې راکوز شول
په کونداغ د کلکوف یې
په ملا تات کړ لکه لښته

لاس او پښو نه یې راونیو
په زانګو یې قوماندان ته ورګوزار کړ
قوماندان ورته په خېټه کې بوټ کېښود
ترې یې وپوښتل په قهر
چې مو چېرته دې ساتلي
ګوډاګیان د امپریالیزم

له ګردونو او له اوښکو
د دهقان سترګو کې جوړ شو منډ د ختو

په خوارۍ یې کړې ورپورته سر لښکر ته
وې: صاحبه معافي غواړم
شي بدله دې پر ګل ستاسې خبره
خو پرې نه وه رسېدمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه ورځ په دې موده کې
يو د کلي مشر راغی
د سليم پلار يې خبر کړو
چې ستا زوی دی شهيد شوی
په اينګور دې رحم وکړه
دا بل زوی ته په نکاح کړه

ددې مشر دا خبره
د پلار مات زړه ومنله
د ډولۍ نوم يې پرې کېښود
جنازه د شهيد زوی يې
د بل زوی مخې ته کېښوه

دوه کلونه چې نور تېر شول
د (سليم) تقدير په بله دړه واوښت
له زندانه شو راخوشی
د خوښۍ اوښکې يې تويې کړې

ټپي زړه ته يې ورپه شا کړ
پنډ د هيلو او دردونو
د اميد او حسرتونو
د خپل کور په لور روان شو





د راتګ يې اوازه شوه
په ټول چم باندې درنه شوه
چې خبر يې له راتګ شو
په ټول کور يې زلزله شوه
تښتېده ځمکه له پښو نه
له هر زړه پورته لمبه شوه

په ماتم د کور ورګډ شو
مور او پلار ترې غېږې تاو کړې
دده تمه وه په زړه کې
چې هر لوري ته نظر کړي
هرکلی به يې موسکا کړي
خو ويرژلی ټول بورجل وو
ژړاګانې ترې نه تاو دی پکې ناست وو
پلار يې تم کړ په انګړ کې

ده کړ ځار د هاغو سترګو
چې باور يې وو په زړه کې
چې په غېږ کې د نظر به
ترېنه وځنډي دردونه
خو نن وريت هغه نظر وو
په لېمو کې د مېرمن يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



له کړکۍ یې اورېدلې
د هغې د سلګو شړیکې
مور یې مخ ته اچولې
په وار وار غبرګې شپیړې
د پلار سرو اوښکو یې لارې
سپینه ږیره کې وې جوړې
مور یې پلار تر ږیرې ونیو
چې دې زوی شو زاره چاودی
بس خبر یې کړه له غمه

د پلار چیغو یې اور واخیست
ټول وطن یې په سر واخیست
یو یو ټکی یې انګار شو

په غوړېونو کې د زوی یې
کړل ورتوی لکه نغري کې
شوې له زوی نه یې تیاره کې سترګې ورکې
بار پر سر یې ټول جهان شو

د پلار اوښکې یې کړې پاکې
وې: چې پلاره ژړا بس کړه
د ځرخي زندان له قیده





که خپل خوار ژوندون ازاد کړم
مرګ خو شته دی بابا جانه
زه به خپله ورته ورشم
په خپل رحم به مې خلاص کړي
له سزا ددې زندان نه.

ستا د ځنـو هـر یـو خـم تـه بـه یـې خـم وو
خـــو دا ســـر یـــې پـــر اوږو د پښـــتانه دی

هســـې ســـترګې یـــې دنیـــا کړلـــې هوښـــیارې
کنـــه زړه خـــو د "حســـن" لا دېوانـــه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

زما هره ارزو يې د نظر په غېږ کې پرېوته
ستړې قافله وه د رهبر په غېږ کې پرېوته

ما ترې نه څو ځله د الفت پيغې راټولې کړې
هر ځل به مې بيا لکه شرر په غېږ کې پرېوته

څه وشو زاهده چې پر ما باندې راړنګه شوه
ډکه صراحي وه د ساغر په غېږ کې پرېوته

ما پر دغو اوښکو ستا خاطر کله دروند کړی دی؟
دا خو وه ويالـه د سمندر په غېږ کې پرېوته

هسکه د قومونو په کتار کې وه تر ټولو نه
غاړه د پښتون چې د خنجر په غېږ کې پرېوته

خلاصه مې کړکۍ چې د موسکا ورته "حسنه" کړه
بيا مې نابېره لکه لمر په غېږ کې پرېوته





# غزل

اسويلي مې چې بيا شال د ګلبدن وړي
دا څپې د نسيم عطر د ګلشن وړي

ستا د شونډو په مچکو به رسوا شم
چې بې پامه خوري انار داغ په لمن وړي

په دا څه شو که لښکر وي د پسونو
چې سالار يې وي زمری خوب د دښمن وړي

چې پر خپلو پښو يې نه وي روان کړی
په سيلۍ به د حالاتو خپل وطن وړي

چې په خوله کې يې نغمې لکه شپېلۍ وي
له مارانو خلکو زړونه زهرجن وړي

د پښتون په قربانۍ ګډ شوی چور دی
څوک يې غوښې تښتوي څوک يې څرمن وړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پـــردې وطـــن بـــادونو کـــې بـــه مـــړ وي
خداېږده کـوم لـور تـه بـه خـاورې د "حسن" وړي

۞

یـو شـوق د دیـدن خـو بـې علمـي لـه دیـن نـه
بـــل رنـــځ د حـــرص او نـــاپوهي د پښـــتون

پـــه هـــر یـــو دور کـــې دښـــمن د پښـــتون
پـــه دې وســـله کـــړي تبـــاهي د پښـــتون

۞

چـــې تنهـــاکو یـــې قـــدم پـــه لـــرزه نـــه کـــړو
دا مېخونـــه مـــې وهـــل د زړه پـــه تلـــو

زلفـــې هیلـــې دې پـــه اوښـــکو کـــه درنـــې وي
راشـــه وایـــې چـــوه زمـــا د زړه پـــه ولـــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

تل چې زه جګ سر د حماسو په مېخانه کې ورم
مې د غرور خولې ته د پښتو په پیمانه کې ورم

دا که رانه تل د زړه قرار په بهانو کې وړي
زه ترې نه بوسې د نه راتلو په جرمانه کې ورم

دلته خو چنار او منار دواړو اور اخیستي دی
چېرته به اوس هیلې د لمبو په اشیانه کې ورم

ناسته به وي بیا په ډک محفل کې څوک خبر نه شي
حال ورته د زړه د اسویلو په افسانه کې ورم

ستا د تصور د سندریز محفل ساتم برم
ځم ورنه خپل غم مې د سلګو په ترانه کې ورم

هوډ مې پسرلی د نېکمرغۍ بیا په راتلو ویني
ګل چې مستقبل ته د ازغو په زمانه کې ورم





ځي د کرشمو په تصویرونو کې روانه ده
زه پسې آیینې چې د ککو په استانه کې ورم

بار په اسویلو مې کړل "حسنه" ارمانونه ستا
زړه نه دې خاشې د بربوکو په یارانه کې ورم

تا په راتګ کړې راته سترګې ټیټې
ما دې مچکو کې سلام راواخیست

څنې خورې کړې تا اغاز لپاره
ما د انجام لپاره جام راواخیست

## مجاهد ملنګ

يوه ورځ په يوه بازار کې
يوه ملنګ ژړل په لار کې

ړندې سترګې يې موښلې
ټړمې اوښکې ترې نه تللې

خړې دوړې پرې پرتې وې
په ړڼو اوښکو لندې وې

چې يې مخ زما په خوا شو
لږ ښکاره راته اشنا شو

شاوخوا پرې خلک پنډ وو
د ده زړه د وينو ډنډ وو

د دوی منځ کې يوه جينۍ وه
په ټوپو لکه هوسۍ وه





له سينګاره برېښېدله
بس انګرېزه ښکارېدله

فقط کسي يې لا تور وو
ورته په پاتې دا پېغور وو

ما يو دم وپېژندله
له غوسې نه رپېدله

کشره لور د قوماندان وه
د زړګوټي يې ارمان وه

زمونږ کوڅه کې ګاونډۍ وه
له مستۍ به لېونۍ وه

نن په قهر وه ملنګ ته
بس تياره وه سم جنګ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا مې مخ کړلو ملنګ ته
ورنږدې یې شومه څنګ ته

لاس یې کېښود زما په ولو
تر وزر مې ونیولو

وې: امسا راته پیدا کړه
زما له لاسه چا خطا کړه

نری درد مې پر ځیګر شو
پر امسا یې زما نظر شو

د دکان خوله کې پرته وه
په خولو باندې لنده وه

ورته ور مې چې امسا کړه
د ملنګ لار یې رڼا کړه





پر امسا یې تکیه لاس شو
لږ یې کم غوندې وسواس شو

دکاندار ته ورغلمه
چې لږ حال ترې وپوښتمه

بیا مې لاس پر ملنګ تېر کړ
لږ مې غم ورځنې هېر کړ

ما وې: ولې بابا ژاړې
له دې خلکو نه څه غواړې

وې بچیه خوار ملنګ یم
له خپل ژوند څخه تنګ یم

یو زړښت راباندې بار دی
بل غربت راته جوړ دار دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما لویه خطا دا ده
چې غربت زما ګناه ده

اورې ناست مې ماشومان دي
دې دنیا ته مجرمان دي

هسې دلته تېرېدمه
دې جینۍ ته ودرېدمه

ما بیان ورته خپل حال کړ
د خېرات مې ورته سوال کړ

دا یو دم راته غوسه شوه
له غوسې نه تکه سره شوه

زما امسا یې په هوا کړه
رانه ورکه یې رڼا کړه



په زخمونو کې سندرې

د ملنګ شوې سترګې ډکې
شوې خبرې ترېنه ورکې

شو روان ماته یې شا کړه
نوره ختمه یې وینا کړه

ما کړې سترګې پاس اسمان ته
په ګیله شومه سبحان ته

ما وې: ای د واک څښتنه
ولې نه یې کړې پوښتنه

د یوه کسي وو وتلي
بل سنګار ته وو راوړي

دا جینۍ وه راوتلې
وه سودا پسې راغلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شـــــنې شېشـــــې يـــــې رانيـــــولې
تـــــورو کســـــو کـــــې يـــــې ږدلـــــې

نـــــو اى! ربـــــه مهربانـــــــــه
تـــــه خـــــو وينـــــې لـــــه اســـــمانه

دې جينـــــۍ چـــــې پـــــرې ســـــنګار کـــــړ
او ملنـــــګ تـــــه يـــــې انکـــــار کـــــړ

دا ډالـــــــــر د هغـــــــــه جنـــــــګ وو
چـــــې ړونـــــد کـــــړى يـــــې ملنـــــګ وو

**يو شعر**

تــه لا لــه ډک زړه لکــه وريځــې شــکايت لــرې
مونږ لکه باران له غمه څاڅکې څاڅکې تويـو شـو





# غزل

بيـا د ځـوانۍ مـې پـر زړه مستـې ولـولې ټوکېـدې
ستا د ښکلا پـه پسرلي کـې چـې وږمـې ټوکېـدې

هلتـه بـه ستا چـې د خپـل زړه پـر ګلشـن وکرلـې
دلته به زما پر خـاورين زړه هاغـه جـذبې ټوکېـدې

اوښکې مې مرې پرې څڅېدې بله چاره مـې نـه وه
ستا چې لـه هـرې يـوې خبـرې نـه لمبې ټوکېـدې

پـر زړه مـې نـه واى کـه بـاران د غريبـۍ د اوښـکو
زمـونږ لـه وږو ګيلـو بـه ولـې فاصـلې ټوکيـدې

وږى مې په سترګو کې چې هر لور ته تصوير د جانان
ورتـه "حسـنه" پـه هـر کـاڼي کـې آيينـې ټوکېـدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ستا که ډېر نیمګړي تصویرونه لا په زړه کې دي
پاتې د زخمونو مې رنګونه لا په زړه کې دي

ستا د نازک حُسن کوم انداز که رانه پاتې وي
نور مې هم نازک غوندې خیالونه لا په زړه کې دي

مه ځه اوس به پورته ترېنه بیا چیغې د څړیکو شي
ویښ مې ستا د هجر پرهرونه لا په زړه کې دي

هېر به وي شاید د انقلاب له مخکښانو نه
زمونږ خو د وحشت ټول توپانونه لا په زړه کې دي

اوس چې پر قدم پورې ګنډلې سترګې ګرځمه
څومره دې پر ما باندې شکونه لا په زړه کې دي

غم یې د تیارې مه کړه چې لار به پکې ورکه کړې
بل مې ستا یادونو ته داغونه لا په زړه کې دي



په زخمونو کې سندرې

ستا د شعر جامو ته بس "حسنه" انتظار باسي
پاتې مې برښنډ غوندې دردونه لا په زړه کې دي

# یو شعر

سمندر د محبت مو په غورځنګ شو
چې ترې تاو مو کړ ساحل د ګرمو شونډو

چې غبار د بې حسۍ ورباندې پروت وي
څه لیدلي به وي چا په هغو سترګو

چې د زړه د درد د نم ځلا پکې وي
راشه وګوره دنیا په هغو سترګو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

هـره سـا زمـا نغمـه شـوه، زېـر و بـم کـې لمبېدلـه
په خوشبو چې ستا د څنو، پېچ و خـم کـې لمبېدلـه

ستا خو يو د ناز کاته وو، پرې خبر هم شايد نـه يـې
زمـا څړيکـه د پرهـر وه، پـه مـرهم کـې لمبېدلـه

ما وې: څه دې کړل څېرې بيا، ډکو ستر ګو کې زما نن
وې: ګلپاڼـه د ګـلاب وه، پـه شـبنم کـې لمبېدلـه

سـتا حيـا وه زياتېدلـه، پـه څپـو څپـو خولـو کـې
زمـا تنـده لېـونۍ وه، پـه زم زم کـې لمبېدلـه

ستا د خيال له وريتې دښتې، جل وهلې راستنه شوه
تلوسه مې بيـا د سترګو، چې پـه نـم کـې لمبېدلـه

چـا خبـره وه "حسـنه" سـتا لـه تـګ نـه نـابېره
په زعفران د بېلتانه چې سـتا پـه غـم کـې لمبېدلـه





## اشيانه

زما د تاک وطن باداره
هر يو رګ دې وزبېښلو
جوس دې واړول پر غاړه
د کوپړيو په کاسو کې
اوس يو څو خلي خاشې خو
ددې وچ تاک د ښاخونو
اشيانې ته زمونږ پرېږده

✵

سـرابي خـوی دې خـدای بـدل نـه کانـدي
وربانـدې ماتـه دې چـې تنـده نـه شـي

هسـې يـې څکـه ځـان پـرې مـه مـړوه
عشـق دې "حسـنه" چـې بـې خونـده نـه شـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ای ننګیالیه خدایه!

ګوره ورکېږي او که ورک شو دا قام
ټوله هستي به دې بدرنګه ښکاري
وکړه پرې ننګ ای ننګیالیه خدایه
کنه دنیا به دې بې ننګه ښکاري

خدایه! دا ستا له پېرزوینو نه ځار
د انساني شعور دې پانګه راکړه
وینه زما دې پښتنه پیدا کړه
د نوراني مذهب دې وړانګه راکړه

خو دا شعور کله په اور شي بدل
شي رااوچته مې لمبه په زړه کې
اخیر انسان یمه بې وسه یمه
ایساروی نه شم ګیله په زړه کې

ډېر دې خاطر ورباندې نه درنوم
هسې د زړه درته خواله کومه
هغه چې ستا مینه په وینه ساتي
د هاغه قام درته ګیله کومه





ډېرې زړې زمانې نه راسپړم
د ننني وخت د مجنون کیسه ده
ستا د دوزخ لوغړن نه یادوم
ددې دنیا د وریت پښتون کیسه ده

د دین جذبه یې ستا تر هسکه رسي
خو یې له روح نه ناخبر پاتې دی
دښمن همدا ورته وسله جوړه ده
چې لا په څوکه د خنجر پاتې دی

دی ترېنه تمه د درمل لري لا
وینه د زخم یې څټي ظالمان
د جنتي خاورې کیسه یې پرېږده
مورنۍ ژبه ترې لوټي ظالمان

څوک یې راټولې کړي ټوټې د بدن
مکار دښمن په لر او بر وېشلی
ځه له پردو نه خو ګیله نه کېږي
ده ځان په ښه او بد تبر وېشلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو خدایه ته خو دغه قام پېژنې
لا دې اسلام ورته راغلی نه وو
ریښتینې لار یې د پښتو وهله
لا دې پېغام ورته راغلی نه وو

نن پرې راټول دي شیطانان د دنیا
پکې یو یو ګوري د سر سرونه
چا ورته لاس کې زولنې نیولي
چا یې پېیلي په خنجر سرونه

ګوره ورکېږي او که ورک شو دا قام
ټوله هستي به دې بدرنګه ښکاري
وکړه پرې ننګ ای ننګیالیه خدایه!
کنه دنیا به دې بې ننګه ښکاري

## یو شعر

ما په ځان د ځان زیاتی دومره ژړلی
چې مې ستا ظلم ته اوښکې پاتې نه شوې





# غزل

لېونتوب مې په جانان کې نه دی پاتې
شور د عشق په بیابان کې نه دی پاتې

زه او هیلې ورته راغلو خوبه! تاته
ځای د زلفو شبستان کې نه دی پاتې

ستا د حُسن مالګه کمه شوه که خوند مې
نور په شونډو د ارمان کې نه دی پاتې

په ښاپست یې غریبي د زړښت راغله
ست د خولې چې په مېزبان کې نه دی پاتې

شاید خوند به کړي له مونږ سره زخمونه
چې نصیب مو په درمان کې نه دی پاتې

دی هم زوړ شو لکه زه خوله به دې واخلم
ګوره زور مې په ایمان کې نه دی پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هسې تندر د سلګو د "حسن" اورم
نور باران په دې اسمان کې نه دی پاتې

## د اجمل خټک پر قبر
## د حملې نه په تاثر

راشه بیا مې دوباره قبر کې مړ کړه
خو خوشبو به مې د فکر څنګه وژنې
چې له مړي مې هم خوب کولای نه شې
کور په کور به زما ذکر څنګه وژنې

لا ولاړ خو یې د قام دي څو کورونه
دده ګور څنګه ظالمه در په یاد شو
ته یې غواړې لا په خاورو کې کم عقله
اجمل والوت زمونږ په زړونو کې اباد شو





# غزل

زورور به په قسمت وي چې پکې څوک لېوني شي
چې په مرګ په کوم وطن کې د خپل ورور څوک مېړني شي

د یتیم که د نرګس دي، له لېمو مو اوښکې څاڅي
هېڅ یو ګل مو خندا نه کړي چوپه خوله تېر پسرلي شي

ارمانونه مې وصال کې که په نه شمارې جانانه
دا مشران د پښتنو دي پس له مرګه به ژوندي شي

که مې طبع د اوبه ده، دا نرمي زما قوت دی
سرې لمبې مې د بل اور هم، په لاسونو کې زګېروي شي

شي خواره لکه لوګي به، ټول عالم به راخبر کړي
اخیر تنګ به مې جانانه په ټټر کې اسویلي شي

تش رندي نه کړم شړم هم، رقیبان ستا له کوڅې نه
څومره نېک کار دی چې لړې، له دې لارې نه ازغي شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا په اور د حسرت ایښي، ارمانونه مې درځار شه
زړه زما دې په سر واخلي، خو چې تاته سپېلني شي

اوس که دا دېوال دېوال وخت د "حسن" شعر ته غوږ نه ږدي
پرې د مړه څراغ به پاتې، اخیر کرښې د لوګي شي

ډېر یې لاندې تر پښو کړل ارمانونه
بیا مې راغلی په زړګي هجوم د مینې

ښه شوه تا په مړو کتو کې راته وښود
ما به چېرته لټوی مفهوم د مینې





# لېونتوب

سړيتوب چې د معراج په تکل ووځي
پورته والوځي اسمان ته
له فضا د ځانځانۍ نه
شي ورګډ د عشق خلا ته
هېڅ آثار چې چېرته نه وي
د نفرت د هواګانو
هله جوړ ترې لېونتوب شي
په سودا د سر پيدا کړي
د جنون د سودا پانګه
يوه جلوه د جمال غواړي
بيا پېي تسپې د اوښکو
د رېښې ګرېوان په تار کې
پرې په ګوتو کړي د فکر
د ليلا د سودا ذکر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پېغلتوب پېټې

پښتنې پېغلې ستا وفا ته سلام
یار درنه غرب ته په سفر تللی دی
بېلتون د هر چا له پښو ځمکه لوټې
خو ستا په زړه کې یې خنجر تللی دی

په نم د سترګو دې پوهېږم ګلې!
نم د مچکو دې رخسار ته غواړې
سره اننګي دې ولونه ولونه، نه شول
مالیار د خپل حُسن ګلزار ته غواړې

ته هم سینه کې یو زړګوټی لرې
چې په شرابو دی قدرت مینځلی
درنه بې باکه نه شو ځکه چې تا
په زمزمي مینه فطرت مینځلی

د پېغلتوب پېټې ستومانه، نه کړې
لا دې اخیستې د حیا په اوږو
تاند ارمانونه دې بې صبره نه شول
لا دې پراته د انتظار په چړو





پښتنې پېغلې ستا وفا ته سلام
یار درنه غرب ته په سفر تللی دی
بېلتون د هر چا له پښو ځمکه لوټې
خو ستا په زړه کې یې خنجر تللی دی

ته چې بنګړو ته د همزولو ګورې
شرنګ یې دا ستا د زړه درزا زیاته کړي
شي انګازې یې ستا په روح کې خورې
د یار د وصل دې سودا زیاته کړي

خو ستا دې لېچې لکه شاړې دښتې
پکې بنګړي کتارولی نه شې
یار دې کوڼ شوی په کړنګا د پیالو
په شرنګ یې ځان ته رابللی نه شې

له دروازې سر راایستلی نه شې
هسې نه داغ دې په لمن ولګي
د چا سپرغۍ به د نظر تېره شي
اور به دا ستا د پت په تن ولګي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بل په غېږ کې دې اشنا زنګېږي
ته يې تصوير سره خبرې کوې
شپه وي په تلو ته د سلګو په ژبه
د خپل تقدير سره خبرې کوې

په هغه څاڅي د سرو څڼو خوله
د تورو څڼو يې شغا ده هېره
اوس د شنو سترګو په رڼا راپاڅي
د تورو سترګو يې ځلا ده هېره

تا لا په زړه ده د زغم تيږه ايښې
هسې نه شور دې غلبلې خورې کړي
لاس دې په خوله نيولي وېره لرې
هسې نه غږ دې ګنګوسې خورې کړي

پښتنې پېغلې ستا وفا ته سلام
يار درنه غرب ته په سفر تللی دی
بېلتون د هر چا له پښو ځمکه لوټې
خو ستا په زړه کې يې خنجر تللی دی





# غزل

چې د زړه غم غلطولی نه شي
پېټی د ژوند پر اوږو وړلی نه شي

ما به تربې ايښي وه ښکلا چې تلله
خو نُور په لاس څوک رانيولی نه شي

د عشق له ډېرو پړاوونو تېر شو
سترګې مې نېغ لا ورکتلی نه شي

رابانددې مه غوړوه ولونه څڼې
پام کړه غزل رانه پېچلی نه شي

اوس به پالې غم د اشنا زړګيه
مېلمه له کوره څوک شړلی نه شي

باز دی "حسن" د غرونو سر ته خېږي
ځاله چنار کې جوړولی نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

په زړه غمجن خو بې موسکا نه درځم
د تا محفل ته بې پروا نه درځم

د نظر تورې دې خبرې کړه را
نور د حیا د ډال تر شا نه درځم

تر کړنګونو د غم ځان اچوم
د اوښکو سیند یم په هوا نه درځم

درځمه خدایه! په اخلاص دې کور ته
په کرایه لکه ملا نه درځم

پوهېږم بیا به درنه ځم جانانه
زغملی نه شم دا سزا نه درځم

که مې درغواړې په ښو به درشم
خوب نه یم یاره بې وینا نه درځم





وې: پېغلتوب مې غزونې وکړې
نوره "حسنه" وارخطا نه درځم

## یو شعر

هسې دروند بار یې د جنګ را په اوږو دی
لکه څوک چې جنازه د زلمي زوی وړي

زړه مې لمانځي د اشنا مینه په څړیکو
که وي شور پکې ګهیځ بېګاه د چیغو

که یې زړه غر د ډبرې دی "حسنه"
انګازه خو به پکې وي ستا د چیغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جهاني ته!

ستا له سوز او شوره ډکه ترانه مې تر غوږو شوه
زمونږ د پت او د مېړانې افسانه مې تر غوږو شوه

زه دې وينم زه پوهېږم چې په روح دې اور بلېږي
په هلمند او په ارغند کې ستا د زړه وينې بهېږي

د قلم تر خوله دې وځي د ايوب ميوندی کړيکې
يو ناڅاپه دې په زړه کې په څپو څپو شي څړيکې

حماسې دې د پلرونو د قلم څوکې ته ناڅي
له هر توري نه د شعر دې د ملالې وينې څاڅي

ته چې وخوځوې شونډې د غېرت چيغې ترې ووځي
چې قلم ته ګوتې وروړې د همت چيغې ترې ووځي

ځکه سيوري د شملو کې روزل شوی يې تر ننه
په خپل دين او په خپل واک کې پالل شوی يې تر ننه





ته چې اوس هم د خوځون او د پاڅون شعرونه وايې
په تيارو کې هم د نوي سباوون شعرونه وايې

ستا همدا دين او غېرت يې تل په سترګو کې غړېږي
دا چې زمونږ په دښمنۍ کې دښمنان سره يو کېږي

مخور د لر او بر مو راته وژني ټول په ګډه
دي لګيا چې کړي بې لارې زمونږ نوی کول په ګډه

که يې زمول پرون عراق کړ نن لګيا دي په ليبيا کې
دا چې ته ترې ټکوې سر لوټ او چور کړي په دنيا کې

دوی چې ووينې سره غوښه چې په تن د چا وي پاتې
ورته يو لکه لېوان شي پسې ځغلي شاته شاته

ټول عالم يې تماشه کړي پکې ښځې چې کړي داړې
که يې پورته تر اسمانه هم شي کوکې او رمباړې

خو تش غم د ګورګين نه دی نه يرغل د فرنګ ژاړم
هاغه ناست ورسره زمونږه تربوران يې ترڅنګ ژاړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ها منکر له خپله نومه د پردو چې ګوډاګیان شول
نورې پولې یې کړې ورانې تش د ژبې بندګان شول

دا منم درسره یاره ستا میوند نه شي نیولی
هېڅوک هم په سر د ځمکې ستا مړوند نه شي نیولی

ستا د جنګ له سمندره توپاني بېړۍ به ووځي
له ټټر نه د غلیم به ستا د عزم ګولۍ ووځي

ننګرهار به دې خپلواک شي، قندهار به دې ازاد شي
یو غلام به کله وکړي ترې نه پاک به دې هېواد شي

خو ویرېږم چې به بیا کړو تش د دین او قام خبرې
ثمره به د پردو شي مونږ به خورو په سر ډبرې

وي میدان به مونږ ګټلی خو فاتح د جنګ به بل وي
جوړ به یې بیا راته په مېنه پروني غونډې غوبل وي

له تاریخ نه به وتلي زمونږ د تورو نشانې وي
ځای په ځای به پکې ذکر چا د ستر ایران کیسې وي



په زخمونو کې سندرې

خدای دې وکړي چې شاعره زما ویره هسې خیال شي
د امید دا ترانه ستا د حُریت د ناوې خال شي

پرې ویښتی به دې احساس د غمځپلو
کانې زړه دې چې اوبه شو غم د چا وو

څنګه تا "حسنه" وې چې نه به ژاړم
ستا په څوکه د قلم کې نم د چا وو

ستا په راتګ محفل ته زه جانانه
شوم درته پاتې رنګ مې والوتلو

بیا دې راټول کړم په سیقل نظر کې
له زړه د ویرې رنګ مې والوتلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

درزا به دې د زړه کړم سرګردانه ورو په ورو
په غېږ کې به دې کړم دومره ستومانه ورو په ورو

سور شال له ځانه ورو لرې کوه شونډې به وخورم
راباسه رنګارنګ کاسې مېزبانه ورو په ورو

لا پاتې کرې شپه ده تا راخيستې ولې بيړه
لږ پرېږده چې دې موږ کړمه جانانه ورو په ورو

څه خوند کوي انداز د پښتانه اظهارد مينې
راګوري چې تر شا او شي روانه ورو په ورو

په يوه شپه به مې کومه آيينه د مينې ګورې
لږ وار وکړه پکې به شې حېرانه ورو په ورو

هر څو لکه غوټۍ که وم خاموش زړه مې راټول وو
خندا د عشق کړم ګل غوندې پرېشانه ورو په ورو





همداسې به يې زړه کړي د پرهر لمن راټوله
"حسن" دې چې کړو هېر څنګه ناځوانه ورو په ورو

زه چې نه درګورم بيا دې هم وينم
څه دې کړم کتل چې مې ليدی نه شي

غوڅ به شي جانانه د "حسن" په زړه
دا ماته شيشه ځان سره وړی نه شي

له دانو نه د تسپو يې خوی زده کړی
چې يو غم لرې کوم بل مخ ته راشي

د غمونه په متاع پايي "حسنه"
بې له دې به د خوښۍ تربته سا شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

پــه حجــره کــې د بنګړیــو شــرنګ د چــا وو
هســې زه دې ملامــت کــړم ننــګ د چــا وو

د غوڅ لاس تپـوس مې نه کـړم خـو ما پـوه کـړه
بــې فاتحـــه دا ګټلـــی جنـــګ د چـــا وو

تــه انکــار لــه مینــې کــړه خــو ځــواب راکــړه
پــه راتــګ زمــا چــې والــوت رنــګ د چــا وو

خــو بــس زه وم چــې پــه کلــي پســې مــړ وم
کنــه زړه پــه دې لنــدن کــې تنــګ د چــا وو

ځنګــه وایــې چــې لــه خیــال نــه مــې شــړلی
ناســت د شــپې پکــې "حســن" ترڅنــګ د چــا وو





## ټوپک زما اشنا دی

زه کم عقله یم ملګرو
چې دښمن ته ګوته نیسم
چې یې ولې زما په لاس کې
د قلم ملا کړه راماته
او ټوپک یې پکې راکړ

زه خو خپله پرې مَېن یم
واک د زړه مې د ټوپک دی
دا دده خوله کې چې وینې
دا زما ژبه خوځیږي
په یوه مټ مې خړ څادر وي
په بل مټ مې دی وي ایښی
د همدې ټوپک لپاره
نارینه اولاد تل غواړم
که واده وي که جرګه وي
دی وي پروت زما په څنګ کې
څوک چې هم راسره تاو کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه نرۍ غوندې خبره
ورته کړم په ځای د خپلې
د ټوپک خوله برابره
بیا راتاو کړمه برېتونه
د فرار تاج مې په سر وي
د خپل ژوند په کنډواله کې
د مقتول په هدیره کې
د خپل ورور پښتون په وینو
د غېرت تاریخ لیکمه

ما چې دومره پټ ساتلی
د ټوپک سره د مینې
نو کړم ځنګه ملامت بل
چې یې مونږ یوځای کړو دواړه
بل به څوک ډېر مستحق وو
چې ټوپک یې وای تر غاړه.





# غزل

ښکاره چې په تیاره کې شي رڼا سترګې وراوړي
چې ښکلي په محفل کې وي په غلا سترګې وراوړي

ته څنګه رانه پوښتې چې دې ولې مخ ته ګورم
آیینه چې مخامخ وي خامخا سترګې وراوړي

رڼا د چا د مخ دې چې له سترګو زړه ته راشي
ځمبل له ښو هېر شي په بیا بیا سترګې وراوړي

پوه نه شوم په خبرو یې په سترګو کې یې ډوب شوم
له سازه نڅاګر ته په رښتیا سترګې وراوړي

دیدن د داسې یار به کړم که نور خلک به څارم
ډیوې ته یې د مخ چې د هر چا سترګې وراوړي

جذبې د لېونتوب دې ویښول غواړي "حسنه"
چې سترګو ته دې بیا نن د اشنا سترګې وراوړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

لاړ شه محتسبه لېونی الفت مې مه پوښته
یم یې په نشه کې د ګناه علت مې مه پوښته

ډېر تکرار منمه چې پیکه ښکاري په هر شي کې
خېر دی خو په مینه کې همدا عادت مې مه پوښته

ویلې لکه اوسپنه د مینې په ګرمۍ کې شم
یخ د دښمنۍ کې د سختۍ شدت مې مه پوښته

مې مې خپل ګوټلي دي لوټلي خو مې څوک نه دي
پام کړه محتسبه راته ګران عزت مې مه پوښته

وې: چې پښتانه ته خو په هر مورچل کې یو لاس وي
دا پرمخ د کفر او اسلام وحدت مې مه پوښته

تللې مې تر کوره ده د هرې مېکدې لاره
لاړ به کړې غلطه ګوره بل شهرت مې مه پوښته





# د شعر بخري

شاعره یاره ما هېر کړی نه یې
که سره ورک یو د بېلتون تیاره کې
د انتظار هره ګړۍ کې اوس هم
ستا په خوږو خوږو یادونو پسې
زمونږ د الفت په تصویرونو پسې
ستا د شعرونو بلومه شمعې
د غزل توري دې حواس شي راته
د محبت مې تخنوي رګونه
خو غم مې ورو ورو شونډې وزبېښلې
لکه چې پاڼې د خزان شي وچې
پرې څڅوم ځکه د اوښکو څاڅکي
چې زمزمه کړم ستا د شعر بخري
هسې نه اور واخلي لمبه لمبه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درنه خاوره

دا د حماسو وطن ننګ له شا زلمو غواړي
توره د احمد بابا شرنګ له شازلمو غواړي

پورته د شهید له وینو بیا شو په الوت نسیم
رایې ووړ پیغام په سره منګول کې د غېرت نسیم
ور یې کړې سرې جوتې هر ځوان ته د همت نسیم

ګرځې د تودې وینې رنګ له شازلمو غواړي
توره د احمد بابا شرنګ له شازلمو غواړي

وریځې د باروتو یې کېږدۍ کې د آسمان ناځي
څاڅکو کې یې غبر د ملالۍ د یا قربان ناځي
تندر ته یې ګوره پکې قهر د افغان ناځي

دا د قربانۍ جذبه جنګ له شازلمو غواړي
توره د احمد بابا شرنګ له شازلمو غواړي





سوځې که د خپل حسن په اور کې دا لمبه خاوره
ډکه له مېړانې او ابرو ده دا درنه خاوره
جوړ به کړي تصویر بیا د تاریخ دا آیینه خاوره

توغ د خپلواکۍ د ځان دنګ له شازلمو غواړي
توره د احمد بابا شرنګ له شازلمو غواړي

زړه لري "حسنه" د زمري ددې وطن سینه
تل یې څیرې کړې په پنجو ده د دښمن سینه
غواړي نور هڅوکي د غلیم ددې مدفن سینه

بیا د انقلاب رباب ترنګ له شازلمو غواړي
توره د احمد بابا شرنګ له شازلمو غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

بیا یې پر رڼو اوښکو لندې شونډې شکرې دي
لړ کې د لعلونو یې پېیلې مرغلرې دي

نه ځمه یوائې د فکرونو کړېچونو کې
تاو له تنهایۍ مې د اشنا د غم لښکرې دي

وایم په منار خو د جومات مو ډزې مه کوه
وایي چې د سولې یې په سر ناستې کوترې دي

راشه چې په یو او بل کې ورکې اروا ګانې کړو
شونډې او مچکې خو ورې ورې خبرې دي

ګوتو د ښو کې یې نیولی لور د وروځو دی
کوم لور ته رواني یې چې بیا سترګې لوګرې دي؟

رابه وړي غزل ته نوی رنګ ستا له فضا د عشق
بیا چې د "حسن" د تخیل خورې وزرې دي





## غزل

هسې په جنګ به مې شي تا سره جانانه اوښکې
ځې بدرګه کې د موسکا مې تر ګرېوانه اوښکې

ښکارې چې ډېرې پر بازار شوې د احساس د خلکو
چې له اوبو نه په دې چم کې شوې ارزانه اوښکې

کله ستنې کله شي ورکې کله وڅڅېږي
خدای کړې زمونږ په شان زمونږه سرګردانه اوښکې

وچ بیابان ته د احساس د چا ونه رسیدې
پر څیرو څیرو ګرېوانونو شوې ستومانه اوښکې

زه هم ولاړ ګوتې په غاښ یم خپل نصیب ته داسې
لکه "حسنه" چې شوې ما پورې حېرانه اوښکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# آزادي

خوندور ښومره ژوندون وي
د آزاد مخلوق په برخه
یو غریب غوندې انسان وي
هېڅ درک یې د ماښام د ډوډۍ نه وي
د غُربت په سپېره دښته
یېلې پښې ورپسې ځغلي
ښپ ښپانده فوارې یې
د سرو اوښکو او سرو وینو
د هر پل مخ ته نښېږي.

خو خندا یې وي په وترو وترو شونډو
سر یې هسک لکه د غره وي
اسمانښک فکر یې زانګي په فضا کې
په رڼوب کې د ضمیر یې
د هېندارو ننداړتون وي
هر اواز یې په آزاده ژبه ناڅي
پلوشین محل د زړه یې
د رڼا مو تازه نه وي





داسې کېف اخلي ازاد مارغه له ژونده
وي اسمان یې غوړولی
ځانته پراخ ډګر د لوبو
په الوت پکې غوټې خوري
که یې څرېکې د وسواس وي
که یې کړېکې د احساس وي
بې پروا یې پکې لوني
وي کوکارې یې په خېټه کې د لوږې
خو وي غم ترې کډه کړې
څو دانې له خدایه غواړي
تناونه د فضا ورپسې نغاړي
له منبوکې نه یې الوځي سندرې
د نغمو په سیند کې لامبي.

خو چې فکر یې ولجه شي
د خوځون واک یې د بل شي
تر ضمیر یې پیرې تاو شي
شي راځوړند یې په ژبو کې کولپونه
د الوت سترې هوس یې
په وزرو کې جلبل شي او ایرې شي.
په دې حال کې که یې مخ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جنت خواړه پراته وي
یا دانې وي په خروارو
یا ډالرې وي پرېمانه
څه به کېف وي ددې شومې
په مرۍ کې به یې نښلي
یو آزاد پل او الوت به
په دې هر څه بدل نه کړي
دا سپېره نصیب ځپلي
په رښتیا د رحم وړ دي
په قفس کې که مارغان دي
غلامان که انسانان دي.

هسې شېخ په تار د ږیرې خوله ګنډلې
کنه هر سړی کیسه لري د مینې

هسې زړه به د "حسن" درته کلک ښکاري
دې ډېره کې چینه لري د مینې





# غزل

شپه به د جذبو درته ډالۍ کړم لږ خو پاتې شه
مړاوې تلوسې به خندنۍ کړم لږ خو پاتې شه

زه به د ځوانۍ خپلې زمرۍ جذبې راویښې کړم
تا به په ترپکو غرځنۍ کړم لږ خو پاتې شه

ډار د رسوایۍ که مې زاریو کړ پیدا چېرته
پټه به جرګه درته سلګۍ کړم لږ خو پاتې شه

ویښ په اسویلو به دې د مخ مړه انګارونه کړم
پورته د مستۍ به ترې سپرغۍ کړم لږخو پاتې شه

ډکې له مچکو به د شونډو پیالې پورته کړو
تنده به د مینې پخوانۍ کړم لږ خو پاتې شه

بڼ د پېغلتوب به دې د ناز سپرلي کې ونغاړم
شنه به له خندا هره غوټۍ کړم لږ خو پاتې شه

ستړې به حیا کړو د سرور په سرودونو کې
مینه د "حسن" به لېونۍ کړم لړ خو پاتې شه

د لوګنې تنهایي تیاره کې ډوب شي
چې په زړه د چا کې بل د ګومان اور وي

خدای دې وساتي "حسن" له هغه وخته
چې وېښتان د مخ یې سپین او زړه یې تور وي

ماته ټوپک په لاس کې راکړي چې په سر یې وله
خپله سوغات ورته د سرو زرو خنجر ورکوي

ما په خپل کور کې د عجم په نوم انسان نه ګڼي
دلته راځي عرب زما په خاوره سر ورکوي





## غزل*

زړګیه پورته شه ړانده اسمان ته لاس واچوه
یادې په سرو اوښکو خیشته ګرېوان ته لاس واچوه

که دې هنره د کمال خوله خوږه شوې نه وي
راشه زما د شعر خواږه دیوان ته لاس واچوه

هغه چې نه ښکاري پاچا! پرې ملامته نه یې
خو دا په څنګ کې دې ښکاره شېطان ته لاس واچوه

تش د موسکا په سیکو نه شي رانیولی مینه
که سوداګر یې نو د زړه تاوان ته لاس واچوه

له عابدانو نه په مینه کې سیالي مه غواړه
د ګنهګار "حسن" پاخه ایمان ته لاس واچوه

* د ګران باز محمد عابد صیب په پله

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

بله پر کنګل زړه چې لمبه شي اوښکې وڅاځي
سترې تلوسه چې اندېښنه شي اوښکې وڅاځي

مونږ څنګه ایسارې په تورتم کې پرخې اوښکې کړو
شپې ته چې تیاره هم زولنه شي اوښکې وڅاځي

غم دڅا د خوړین زړه له چینې راخوټولي وي
هسې څه خبره یې پلمه شي اوښکې وڅاځي

بل چې درکې جوړ کړي پرهرونه غریو نیولې شي
خپل دې چې د درد په تماشه شي اوښکې وڅاځي

ګرځې د امید ګرمه فضا کې وریځې واغوندي
یخه د امید چې ولوله شي اوښکې وڅاځي

مست به وي موسکی به وي "حسنه" چې یې سر وي هسک
کله چې کبره د سر کاسه شي اوښکې وڅاځي





## د مینې ابدیت

څه وشو که مو جسمونه
د دوو مختلفو لارو لارویان شول
او له تلپاتي وصل نه  بې برخې شول

زه هم ستا غوندې
د خپل تقدیر د کاتب له ارادو نه ویرېدم
خو اوس باک نه لرم
ځکه چې پوهېږم
چې زړونه مو اوس هم
هاغه شپېو په خپل موټي کې
په هاغه ځای
غېږ په غېږ
خوله په خوله
یوځای نیولي دي

زمونږ له همدې بېلتون نه
زمونږ د مینې ابدیت زېږېدلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د همدې ابدیت په رڼا کې
ستا په نازبینو ګوتو
په مریو کې د پټې کړې هینداره
په هر ځونډي کې
ستا د پېغلتوب شوخې تابلوګانې لوبوم

هاغه شېبې یکې تخنوم
چې به مو په ګډه ټیپې اوریدې
ها ټیپې چې د هرې یوې په پای کې به
تا خپلې مرموزې سترګې
زما په لور کړې کړې
ترڅو زما د سترګو د ککو په هینداروکې
د خپل زړه چاودون د سوز د انګازې
انځورونه ووینې

زمونږ د مینې همدا منزل وو
چې زمونږ د ډبرینو زړونو
د هرې ډبرې له منځ نه یې
د مینې د اوښکو بهانده چینې راوخوټولې
په کومو کې چې هره شېبه





ته خبره یې
چې ماته
هاغه تېر مهال
او په هغه کې د مینې لېونتوب
څومره لویه او ارته نړۍ سپړلې
لکه څوک چې یوه تاریخي نمایش ته لاړ شي
تل مې تر لاس نیولې
د ماضي ګلبڼ ته
د خپلې لېونۍ ځوانۍ
راز و نیاز ته بیایې

ستا د لاس هره نخښه
د ژوند په دې بند تیاره دهلیز کې
لکه بلینده راته بلېږي
همدا د بېلتون تناونه که نه وای
دوی هم شاید ستا د پښتنې ښکلا په شان
د غفلت په تاخ کې
د ګردونو په پړونې کې
محجوبې پاتې وای

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یو چا جل وهلې پېغلې هیلې
بربنډې لامبي

د مینې دا تلپاتې یادونه
او د خاطرو بلوغ دی
چې پرې د ژوند دا ترخې شېبې غلطوم
ها چې د حال په یوه خوښۍ یې هم
پام بلې خوا ته نه اوړي.

❋

چــې پــه تـــوري د قلـــم تـــورې راباســـي
د منطـــق او دلاېلـــو ځـــواک یـــې نشـــته

"د قلـــم څوکـــه تېـــره ســـاته "حســـنه"
کـه دې سـر هـم پـرې قلـم شـو بـاک یـې نشـته





# غزل

فکرونه مې سپرغۍ شي په هجران کې لکه ستوري
الـوځي پـه یـادونو د جانـان کـې لکـه سـتوري

ما وې: درته پـه ښار کـې کلیـوال سـپېڅلي زړونـه
ورکېـږي د لـوخړو پـه توپـان کـې لکـه سـتوري

دا بیا لکه تیاره چې د بېلتـون د شـپې خـوره شـوه
خورې مې چې شوې اوښکې په ګرېوان کې لکه ستوري

شړم که ټوله ورځ دې شوخ یادونه خو چې شپه شي
راګـوري پـه کړکیـو د ارمـان کـې لکـه سـتوري

لاربښـود مـې د مَېنـو د کـاروان شـول ارمانونـه
شیندم یې ستا د عشق په کهکشان کې لکـه ستوري

مَـېن ورتـه "حسنه" ټولـه شـپه د زړه خوالـه کـړي
ستا توري د غزل دې په اسـمان کـې لکـه سـتوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ستا د رخسار چې ځلېدلې آیینې
کانو کې هم راټوکېدلې آیینې

چې وارخطا یې شوې اوښکنې سترګې
ته وا اوبو کې رپېدلې آیینې

غالبه تل مونږ دا خطا کوله*
ګرد وو پر مخ مونږ پاکولې آیینې

وینم یې پرک که راته شا کړي یاران
لکه دوه مخې ځلېدلې آیینې

ستا د موسکا لمر کې د اوښکو باران
ته وا له هسکه اورېدلې آیینې

* د غالب د یوه بیت ترجمه ده.





زما نظر ستا اننګي غورېدل
دا خو په لمر کې پرکېدلې آیینې

ښکلي تصویر کله په یاد کې ساتي
"حسنه" تا څنګه پوښتلې آیینې

زړه ته درغلم له هغې دروازې نه
چې بې پامه خلاصه پاتې وه له تا نه

ته چې خپل زړه ته راتلې زه تر تا وړاندې
ستا د زړه په غولي ناست ومه جانانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

زړه ته چې ورپېښه حادثه شي اوښکې وڅاڅي
ډکه چې له ګرده دا کوڅه شي اوښکې وڅاڅي

ووینې سرې وینې پښتنې وي چې ایسارې وي
پورته د غېرت چې جنازه شي اوښکې وڅاڅي

غوڅه چې څرمن شي څړیکې وڅنډې څپې څپې
جوړه چې په زړه کې هنګامه شي اوښکې وڅاڅي

وشړي اسمان هم په باد ورېځې اخیر وژاړي
ډکه چې د زغم د چا پیاله شي اوښکې وڅاڅي

هر څو که د یو او بل په غېږ کې زانګي دوه زړونه
زیاته چې د سترګو فاصله شي اوښکې وڅاڅي

ګورمه چې بل ته په شیشه کې پورې وخاندم
مخ ته مې چې کله آیینه شي اوښکې وڅاڅي





تل چې لکه شمعه "حسن" ژاړي ملامت څه دی
پورته چې له زړه د چا لمبه شي اوښکې وڅاڅي

مشوره به چېرته ځای کړي
له هوا یې چې ډک سر وي

ډېر افراط په استغنا کې
د فکري غُربت مظهر وي

د الوت هوس یې مړ شي
خپل مکان ورته اسمان شي

د حواسو په قفس کې
چې کوم فکر بندیوان شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د زلفانو ځانګې

شپه ده له خوشبو نه د زلفانو ځانګې ډکې دي
نن د چا په مخ کې له سپوږمۍ نه وړانګې ورکې دي

دښته د ژوندون مې له سپېرو خاورو نه ډکه وه
لار د بربوکۍ غوندې منزل ته رانه ورکه وه
دوړې مې ملګرې وې د ژوند راځنې کرکه وه

ما وې: د ازغيو مې په زړه کې څوکې لکې دي
نن د چا په مخ کې له سپوږمۍ نه وړانګې ورکې دي

بار به په تنکۍ اوږو وې ما د زلمیتوب جذبې
سترګو کې مې رغښتې د یو چا د پېغلتوب جذبې
ورکې په سودا کې وې زما د لېونتوب جذبې

نه راځي خاطر ته خاطرې مې بې درکې دي
نن د چا په مخ کې له سپوږمۍ نه وړانګې ورکې دي





جام د زړه مې ډک وو ترېنه لاندې څڅېده مینه
تنده د یو چا پسې مې سترګې ګرځېده مینه
هر ځل به مې زړه ته ژړغونې ستنېده مینه

زړه به راته وې: چې پېغلې ټولې په زړه کلکې دي
نن د چا په مخ کې له سپوږمۍ نه وړانګې ورکې دي

راغی هغه وخت چې مې په جام د زړه راپرېوته
نن یوه سپوږمۍ په تور ماښام د زړه راپرېوته
تکو تورو ورېځو کې په بام د زړه راپرېوته

اوس مې چې له غمه د مَېن زړه اوږې سپکې دي
نن د چا په مخ کې له سپوږمۍ نه وړانګې ورکې دي

اوس پر زړه د سپین لمر پلوشې لکه د غره لړم
جنګ ته د غمونو ارادې لکه د غره لړم
نه تښتمه ژونده ولولې لکه د غره لړم

وګوره په پښو کې مې خورې زلفې تلکې دي
نن د چا په مخ کې له سپوږمۍ نه وړانګې ورکې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

اور دې شي د شمعې خو چې ستا په کتو وڅاخي
اوښکې مې دې ياره په وار وار له ليمو وڅاخي

ژر به په رګونو د سحر کې شيدې وځغلي
څاڅکي د رڼا به د سپېدو له سينو وڅاخي

هلته په وطن کې چې سينه د افغان وڅيري
وينې يې لندن کې د "حسن" له بڼو وڅاخي

نه غواړمه دا چې مې په اوښکو ژړغونی شي
دا خو يو څو څاڅکي په ساحل له څپو وڅاخي

جوخت مې کړه امېل ته د سينې سترګې مې ډکې شوې
پرېږده چې نن اوښکې د زاهد په تسپو وڅاخي

هر رنګ که ګلپاڼو د لفظونو ته ورواغوندم
راز د محبت رانه د شعر له خوشبو وڅاخي





جوړ د بوډۍ ټال کړي سره يو ښکلا او مينه شي
اوښکې د "حسن" چې ستا د مخ په شغلو وڅاخي

✵

دا له ګوهرو ډک صدف لفظونه
اوس به يې خيال ګڼې الفت به دې شي

په زمکه مه غورځوه شعر د "حسن"
ګوره مَېن به شي حاجت به دې شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ډېر يې وشرم له زړه نه سرخوړلي اور ته راشي
ارمانونه ګنهګار مې لاړ شي بيا دې ګور ته راشي

ټوله ورځ وي رانه پټه پښتون خوی يې دی د ستوريو
بې حجابه مې تياره کې د پرهر ټکور ته راشي

ځم سيکې د شوګيرو مې په لېمو کې ورته نيسم
راغله شپه بيا به مې خيال ته د خپل حسن پور ته راشي

ټوله ورځ که وي ځپلی مزدورۍ خو بختور وي
چې ماښام د ختو کور ته، د بنګړيو شور ته راشي

پرې د مينې پيريان کېني، په دمونو پسې ووځي
د پيرانو په دې چم کې دا "حسن" ميخور ته راشي





## شرر

سا د کُل په جُز کې ګرځي
جُز د يو او بل تکميل کړي
حُسن حُسن وي په مينه
مينه زېږي له ښکلا نه
له فطرت د ارتقا نه
هستۍ دغه راز زده کړی
د شرر حماقت ګوره
چې له اوره مخه وکړي
څو شېبې يې شور او نور وي
خو بيا سوړ شي لکه مړی
هغه دم ترې نه دم لاړ شي
ځکه هر شی چې له اصله
فاصله واخلي جلا شي
د هستۍ کور يې تالا شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

څومره چې د مینې پروانې په دې وطن کې دي
هومره د بازانو اشیانې په دې وطن کې دي

هومره به دښمنه ستا د وینو څاڅکي وڅاڅي
څومره چې د اوښکو دُردانې په دې وطن کې دي

چا د ترهګر چا د مذهب په نوم ځپلې دی
هر ظالم مونډلې بهانې په دې وطن کې دي

څومره یې تاریخ ته کارنامې راپلټلي دي
څومره د غیرت لا خزانې په دې وطن کې دي

څوک یې خزانې څوک یې مذهب څوک یې کلتور لوټې
هر چا بیا په نخښه نښانې په دې وطن کې دي

نوره به لا موج وهي نشه په دې سرونو کې
ډکې د غرور لا پیمانې په دې وطن کې دي





څنګه یې "حسنه" د قلم څوکه کې ونغاړم
هر لور ته د وینو افسانې په دې وطن کې دي

چا مې زړه په محبت باندې غوړ نه کړ
په اوړو چې مې پرتې دي سپورې ځنې

په دریاب کې مې د مینې اول ډوب شه
بیا به درکړمه په لاس کې تورې ځنې

سر به یې خلاص ستا پر لمسون شي اخیر
نن دې پر ورور که راته ملا ماته ده

ماته په تور مخ رڼه لار مه ښایه
زما پښتو ستا تر تقوا زیاته ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

څه مې زړه ته ګورې چې پکې څومره خبرې دي
نه ښکاري له لوړو د غرور ډېرې ژورې دي

ناڅې مې د خیال په سندریزو محفلونو کې
چا وې: د الهام ښاپېرۍ ما نه مرورې دي

شاید چې کوترې یې د سولې چېرته ولیدې
لومې لومې ړیرې یې چې بیا ورته ببرې دي

پام په دې تش لاسو به دې هسې ګولۍ پڅې شي
دې خلکو په تن د پښتنو ولولو زغرې دي

زمونږ محل د فکر چې باروتو هم لوګن نه کړ
څړیکو مو شیندلې په زخمونو کې سندرې دي

اوس به یې "حسنه" د پښتو پېغله تر غاړه کړي
تا چې د غزل په تار پېیلې مرغلرې دي





## غزل

سر پرې چورلې زندګي مو بوربوکۍ شوه
له سپېرو دوړو نه ډکه یې ځولۍ شوه

ما یې نیت د بېرته تګ پوښتی چې شپه شوه
دې اوږۍ له غاړې خلاصه کړه موسکۍ شوه

پر ورشو د مخ یې کر د بوسو وشو
په ترپکو یې موسکا لکه هوسۍ شوه

په حُباب کې مې د اوښکو ارمان درومې
له اوبو جوړه روانه یې بېړۍ شوه

چا د ژوند د لفظ مانا رانه پوښتله
ستا نامه مې وه پر زړه خوله کې سلګۍ شوه

د زمان د باد د رُخ په لوري اوړي
توجو د زماني د چرګ لکۍ شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نظر د نسیم غېږ کې مې خوره شوه
په خپل رنګ او بوی درنه لکه غوټۍ شوه

پر "حسن" به نغمې کله زېرې وکړي
چې له نل نه د ټوپک جوړه شپېلۍ شوه

نورې هم ډېرې منډې تړې غواړي
تش یې په مینه ګوزاره نه کېږي

"حسنه" ژوند د ناروغ لمونځ مه ګڼه
غواړي خوځون په اشاره نه کېږي





# د درد زلزله

زړه کې مې شور کړي ځپ ځپانده مینه
لکه قید شوې د قفس بلبله
ورته کوچنی مې شي د زړه سمندر
ورباندې پېټی شي درنه غوندې شي
غواړي په هر لوري خوره وره شي
کله مې زړه وچوي دوه ټوټې شي
پکې راپورته شي د درد زلزله
کله احساس پکې توپان راولي
هره ځپه کې یې طغیان راولي
په نغمو سر شي په ساحل ورواوړي
په غېږ کې ونغاړي د زړونو دښتې
خو پرې د یوې هم څه چاره نه کېږي
یوې ته ورواغوندي شګلن پړونی
له بلې ټولې کړي زرخیزې خاورې
غولی یې نور هم ډبرین پاتې شي
زړه مې د مینې هسې شین پاتې شي
د چا یې خوښ نه وي انداز د قدم
چاته یې تګ ډېر ګړندی ښکاره شي
څوک یې مالګین فطرت نه کرکه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک وي په خپل ازغن فطرت خوشحاله
ترېنه یې رخه وشي شا کړي ورته
ځنې بیا زړې د الفت نه لري
چې پکې شنه کړي د لاله ګلونه
پیڅې راټولې کړي ستنه شي زړه ته
شونډې کړي بوخې په ګیله شي زړه ته
نه یې په پښو کې د څپو وي پاڼې
هاغه ښکالو او سندریز ترنم
لکه یو چا چې وي خښ کړی مړی
او پټه خوله له هدیرې رادرومي
ماتمکده مې د غمجن زړګوټي
د ویر د ساندو تور لباس واغوندي
مخ په څپېړو وهي کوکې وکړي
چې څنګه ټول کړم د ذوقونو واټن
څنګه کړم لنډې د فطرت فاصلې
له کومې خوا راوړمه داسې مینه
چې د هر زړه دښته خړوبه کاندي.





# غزل

زه پـه دوزخـي تیـاره کـې خیـال د جنـت پېـژنم
سـتا پـه تصـور کـې شـم مشـال د خلـوت پېـژنم

مه زانګه پکې لـه خپـل مکانـه بـه دې ورکـه کـړي
زه مــې د فکرونــو پــر و بــال د الــوت پېــژنم

وژني دې پر خپل، لاس کې خنجر د آزادۍ ورکړي
زه د ننــــي ظــالم کمــال د وحشــت پېــژنم

شپه به مې نن بیا ستا په کاواکه څړیکه لاس کېږدي
زه مې د زخمـو کتـاب کـې پـال د قسمت پېژنم

تــه دې څــه چــاره د غلامــۍ د زولنــو وکــړه
زه مې لـه زانګـو نـه خپـل جـلال د غېرت پېژنم

زه که یم غمجن خو ستا محفل ته پـه خنـدا درځـم
مـه ویرېـږه یـاره سـور او تـال د الفـت پېـژنم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خود به هر منطق تښتي زما له ملګرتیا ځنې
زه چې مې "حسنه" خپل وبال د غربت پېژنم

ټول حواس یې شي بې واکه ورته تم شي
په غزل چې د "حسن" د چا نظر شي

ورته رڼې سترګې ګوري پکې ورک شي
لکه پېغله چې په مخه چاته ورشي

چې پرې پالنه د جفا ونه کړې
په دې ځولۍ ځولۍ وفا به څه کړې

چې پکې برخه د زکات مې نه کړې
په دې دلۍ دلۍ ښکلا به څه کړې





# غزل

چې عاجز لا د حالاتو له تفسیر دی
تفکر یې په حواسو کې اسیر دی

په هستۍ د اصل ځنګه ګومان وکړم
چې تش رنګ یې هر اندام لکه تصویر دی

د پښتون د جنون اور تړلی نه شي
ویلې شوی په دې قام کې هر زنځیر دی

کله غم کله ښادي پکې نغمه شي
له دې زیر و بم نه جوړ ساز د تقدیر دی

د سرو سترګو بلو شمعو ته ویښ ناست دي
د "حسن" او ستا د غم داسې شوګیر دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شین خاپ

اور یې چې ګوتو ته راورسېدی
هله شوم پوه چې ما سګرټ بل کړی

د اندېښنو مزل ځپلی خیال مې
غېږ کې د هاغې کیسې خوب وړی وو

چې یوه ورځ مې د غاښونو کاروان
پرې کړ د واک مهار یاغي غوندې شو

ټوپ یې کړ ستا د اننګو ورشو ته
ورباندې ویې لګول چکونه

جوړ شو شین خاپ پر اننګیو دتا
سبا همزولو درنه کړه پوښتنه

تا ورته وې: چې دا مې خال ایښی دی
دوی په خبره ستا باور نه راتلو

لږ یې دیکه کړې درنه ویې پوښتل
چې ټوکې مه کړه په رښتیا وایه



په زخمونو کې سندرې

اول کې وشرمېدې ګونګه شولې
بیا دې لېمو کې شو غرور په څپو
شونډو دې واغوسته مرموزه موسکا
ورته دې ووې: چې رښتیا وایمه
دا مې چې وینئ دا مې خال دی پرمخ
خو راته چا د غاښ په ستن ایښی دی

✵

چـــې درتـــه ســـترګو مـــې ســـپړل رازونـــه
شـــوې مـــې لـــه ژبـــې نـــه خبـــرې ورکـــې

ســـتا حېرانـــي مـــې پکـــې ځـــای نـــه کړلـــه
آیینـــې لیمـــې مـــې وې لـــه ګـــرده ډکـــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

لولم د ظالم ژوند افسانې دتا په سترګو کې
توري دي د سرو اوښکو دانې دتا په سترګو کې

مرګ رانه ژوند نه اخلي ولاړ دی انتظار کوي
وینې مې د مینې بهانې دتا په سترګو کې

پام کړه چې اخیر به مې تقوا له پښو وغورځي
ګرځي ورپسې چې پیمانې دتا په سترګو کې

پرېږده مه رابوله ارمانونه اور د شمعو ته
بیا به شي جلبل دا پروانې دتا په سترګو کې

ښځې مې وې دلته پسې راغلم مخ راواړوه
غواړم د یادونو خزانې دتا په سترګو کې

لا یې پېژندلې ناوې نه دي سادګانې دي
جوړې مې کړې هیلو اشیانې دتا په سترګو کې





راشي خداېږده څنګه د "حسن" پرې دوباره باور
ژوند چې زمزمه کړي ترانې دتا په سترګو کې

ځینې کسان وي د تکریزو غوندې
غواړي ښکلا ورځنې پور کړي سړی

خوکه نېږدې درته ډېر وخت پاتې شي
رنګ یې بدل شي نور هم تور کړي سړی

جوړې دوه مسرۍ مې د غزل کړې ترې
سترګو ته دې زما په نظر وګوره

حُسن د عالم مې کړ راټول پکې
راشه دا د مینې هنر وګوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د وربځو تورتم

ستا د هجر د تیارو چې
تور څادر مې پر زړه خور شي
چېرته لرې مې په زړه کې
ستا یادونه دلاسه کړي
لکه تور تورتم د وربځو
پاس پر سر د چا ولاړ وي
خو لږ لرې د یوه هسک غره
شنه لمن وي لمر په خپلو
پلوشو کې رانغښتلې.



په زخمونو کې سندرې

## د احساس کرونده

تا خو هر ارمان پاللی
هر یو خوب د ارزوګانو
له تعبیره وروسته وینې
د قدرت هوس دې مور کړې
د بې وزلو پر ځپلو

له دې نوره خالي زړه کې
د لویۍ هوس ځراغ کړې
کله سرې اوښکې د کونډې
کله سرې د مقتول وینې
بلوې په دې ځراغ کې

د ناخوالو او نادودو
پنځونه کې استاد شوې
په کمین کې ورته کینې
د ازل قافله لوټ کړې
چې پکې وي د هر چا برخه جوته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته له هرې برخې تاو کړې لویه خېټه
د عشرت په هر محفل کې
انګازې ستا د خټ خټ خندا خورې وي
ښاپېرۍ درته نڅا کړي
په سندرو کې ویدېږي
په نغمو کې راپاڅېږي
خو سکون درته سراب شي
چې ته څومره پسې ځغلې
هومره وړاندې درنه رومي

د خوندونو وسیلې دې کړلې سترې
هرې یوې سره عادي دتا فطرت شي
اندیښنې دې بیا د بلې په تلاش شي
چې موندل یې ناممکن شي
سر دې ډک د پرېشانۍ له شور ماشور شي
ته وا ځاله پکې کړې ده غومبرو
سر دې ډوب کړې بیا د میو په پیاله کې
په دې تمه چې ترې والوځي غومبرې
خو هاغه ځانونه نور هم پکې کلک کړي
سر دې چوي ځای د تېښتې درنه ورک کړي





ګوره اوس دې هم پر شونډو
خړ سپېره پترې پراته دي
ترې نه کوم پلو ته کډه
ها د نورو له ژړا نه
ټوکېدلې خندا وکړه
یوه څپه د اندېښنو د هوا راغله
ستا د هاغه څراغ سا یې
کړه تربته په مرۍ کې
بلې کړې دې پکې چې وې په زړه کې
نن تودې خولې د سترېو مزدورانو

رېږدوې دې د زړه ونه
رژوي ترېنه تنکۍ د هیلو پاڼې
لالهانده زړه دې بیا تیاره کې ډوب شو
دا د کومو اندېښنو په نیلي سپور شي
څومره ژر شي ستا د روح او روان دښته
دم په دم د اضطراب له ازغو ډکه
څنګه وترووړي په منډه
کرونده ترې د خندا د سرو ګلونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د زور او د سرو زرو
د هسکین غره په سر ناست یې
خو بیا هم څومره غریب غونډې ښکارېږې
په تن روغ په زړه ناروغه معلومېږې
ترهېدلی دې له زړه نه اطمېنان دی
د شپې خوب درنه کړي کرکه درنه تښتي
زور او زر دې درته پېټې
شپېلوي یواځېتوب دې د زړه ونه
ته پوهېږې چې دا ولې؟
ځکه تا ضمیر وژلی
د هوس یاغي سېلاب دې
د احساس شنه کرونده دې
د مادیاتو په شګلن څادر کې نغښتې
چې پرې تش د وسوسو ازغي شنه کېږي

د اروا پالنه وکړه
د الفت تومنه دې وکره په زړه کې
په اروا د قربانۍ باندې ځان پوه کړه
د هستۍ نظام په ورکړه باندې پایي

له خویونو د فطرت سره بلد شه
لاروی د لېونتوب د قافلې شه





د الفت او خوشحالیو پیل ویښ کړه
چې غبرګون یې درته غېږ کې سکون راوړي
الهي پیغام د مینې زمزمه کړه
سوړ نغری دې د زړه ګرم کړه په مینه
بیا دې وګوره په زړه کې
بل به داسې یو لمرین غونډې څراغ شي
چې به توخم د رڼا لوني هر لور ته
پلوشې به ترې په هره خوا ټوکېږي
او وهي به په مېړانه
له توپان د وسوسو سره ډغرې.

نور که پرې اظهار د خوشحالۍ کوي
مونږ د خوشحالۍ لپاره وخاندو

اوښکې مو له سترګو زړه ته ماتې شي
تش د یوې ډوډۍ لپاره وخاندو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

خير دی وعدې د نن سبا کوه
مينه خو جانانه په رښتيا کوه

تل ته مې د شعر که رسېدی نه شې
شرنګ ته د لفظونو يې واوا کوه

ستا اواره ځريکو ته جونګړه شوه
زما پرهر پرهر زړه ته دعا کوه

نور په ژوند کې هر قدم په پام اخله
يو د محبت پکې خطا کوه

خانده له هر چا سره خندلی شې
راشه د "حسن" سره ژړا کوه



په زخمونو کې سندرې

# غزل

هسې مې په خوله خبرې سپورې وي
زړه کې مې اشنا ارادې نورې وي

زه يواځې نه يمه له غمه تور
وريځې هم هاغه ژاړي چې تورې وي

خلاص شم په خوارۍ له مزدورۍ ماښام
در چې شم د تا دروازه پورې وي

وڅښو دې پيالو کې د پښتو شراب
زمونږ چې پر تندي پګړۍ نسکورې وي

اخله يې "حسنه" لاس په لاس ترينه
پېغلې په مچکو کې بد پورې وي

# غزل

څه کرم دې راته پرېښود رانه لاړې
مې او غم دې راته پرېښود رانه لاړې

هر يو ګوټ يې دم ختلی غوندې ښکاري
خالي چم دې راته پرېښود رانه لاړې

رڼاګانو مې له سترګو کډې بار کړې
پکې نم دې راته پرېښود رانه لاړې

هره پانګه دې قسمته رانه لوټ کړه
تش قلم دې راته پرېښود رانه لاړې

په کنډر ټټېر کې دواړه سره ګرځو
ستړی دم دې راته پرېښود رانه لاړې

ګورو زلفو دې مَېن کړم اوس د هجر
پېچ و خم دې راته پرېښود رانه لاړې





# غزل

مينه په چا مه کړه عادت به دې شي
د زړا سودا مه کړه عادت به دې شي

راټوکېدلې چې له زړه نه، نه وي
هسې خندا مه کړه عادت به دې شي

دروغ به هېر کړې ملامت به دې کړي
رښتيا وينا مه کړه عادت به دې شي

راکې به سپک د جفا پاتې نه شي
دومره وفا مه کړه عادت به دې شي

اوس تر پلو بيا به لوڅ مخ راګورې
دا مشغولا مه کړه عادت به دې شي

نوم د طبيب به کړې بدنام "حسنه"
د زړونو غلا مه کړه عادت به دې شي



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د تنهاکو جامې

جفا دې جوړ کړ سور پرهر په زړه مې
په غم لړلې د پرهر اوښکې مې
ستا له دردونو رېبارانو ځنې
پټې جامو کې د تنهاکو شولې
دوی هم دي پېغلې پښتنې لکه ته
د چم له ژڼيو نه پرده خوښوي

## يو شعر

د حمزه بابا په شانتې ته زړېږې دی ځوانېږي
ستا او ستا د شعر "حسنه" څومره ځان ځان ته فطرت دی





## د وصال لمر

لکه چې اووري باران په ونو
او لمر راوخېژي باران شي غلی
د باد څپې پاڼو ته ورکړي جوټې
او ترې نه وڅاڅي په ورو ورو څاڅکي
داسې زما د بېلتانه د مهال
راڅوړند شوې په بڼو کې اوښکې
د اسويليو په پاسته شمال کې
نن د وصال په لمر کې وڅڅېدې.

د اقتدار په نرۍ لار مه ورځه
پټ يې په دوړو کې په مار مه ورځه

د زړه آيينه به دې شي پټه پکې
"حسنه" پام په دې غبار مه ورځه

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**